
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# میاشتنی

# آبادي





کڼه ۸

دوهم کال - شعبان المعظم

## گرانو هېوادوالو!

په افغانستان کې نوي سیاسي تحول دې ته لار هواره کړه چې د افغانستان خلک له سیاسي، نظامي، اقتصادي او فرهنګي نظره خپلې ټولې چارې په خپلواکه توګه په لاس کې واخلي.

د سیاسي ثبات تر رامنځته کېدو وروسته اقتصادي وده او پرمختګ مهمه او حیاتي موضوع ګڼل کېږي، چې د یوه هېواد په بیارغونه او ښېرازۍ کې رول لري، ترڅو خلک له فقر، بېکارۍ او تنګلاسۍ څخه وژغوري. په همدې توګه د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت په ټول توان هڅه کوي، چې د خپل ولس اقتصادي ستونزو ته د پای ټکی کېږدي او د هېواد اقتصاد د بهرنیو مرستو پر ځای یوازې پر خپلو پرېمانه کورنیو سرچینو متکي کړي.

الحاج ملا عبدالغني برادر آخوند

- اقتصادي کمېسیون د کابل - جلال آباد د دوهم سړک جوړولو پروژه تایید کړه
- د بدیلـــو سوداګـــریـزو لارو اقتصـــادي ارزښت ته کتنه
- Evaluating the Economic Significance of Alternate Trade Routes

@FDPM_AFG dpmea.gov.af @FDPM_AFG

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
The Deputy PM for Economic Affairs Office
د مطبوعاتو ریاست

بسم الله الرحمن الرحیم

# آبادي

۸ گڼه

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
میاشتنۍ

**د امتیاز خاوند:** د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

**کتنپلاوی:** مولوي سيد علي سعيد، مولوي ذبيح الله ناصر، مولوي عبدالله عزام، امان الله حنيفي او فضل ولي شيراني

**مسئول مدير:** مولوي خالق‌داد تقي

**مرستيال:** احمدشاه راشد

**ډيزاينر:** عطاءالرحمن سعيد

**فوټوژورنالېست:** سيد عشرت رحمتي

**چاپ:** بهير مطبعه



پته: مرمرينه ماڼۍ، ملک اصغر څلورلارې، کابل

ټيليفون: 0202107500

برېښناليک: media@dpmea.gov.af

وېبپاڼه: dpmea.gov.af



- د مجلې له مقالو او انځورونو څخه ګټه اخيستنه د سرچينې په ذکر کولو سره جواز لري.
- استفاده از مقالات و تصاوير مجله با ذکر مآخذ مجاز است.

# لړلیک


| | |
|---|---|
| سـرلـیـکـنـه | ۱ |
| د اقتصادي او ملي تدارکاتو کمېسیونونو او د پانگونې بین الوزارتي کمېټې غونډې | ۲- ۱۱ |
| د پـروژو پـرانیسته | ۱۲ - ۱۶ |
| کنفرانسونه، ناستې او سفرونه | ۱۷ - ۲۵ |
| خبري راپورونه او اعلامیې | ۲۶-۳۳ |
| د اقتصادي موضوعاتو اړوند مقالې | ۳۴ - ۴۴ |
| د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال پیغامونه | ۴۷-۴۸ |
| انگلیسي برخه | ۴۹-۵۷ |




# سرلیکنه

واک ته د اسلامي امارت له رسېدو وروسته په سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو، رغنیزو او نورو برخو کې ډېرې پرمختګونه وشول، داسې پرمختګونه چې په تېرو څو لسیزو کې یې ساری نه دی لیدل شوی. د صنعت، سوداګرۍ، کرنې، ترانسپورټ، سیمه‌ییز اتصال او دېته ورته نورو سکټورونو زیربناوې تر ډېرې اندازې ورغول شوې. د قوش تېپې کانال، د تخار نمک آب کانال، د کمال خان بند، بخش آباد بند، په ټول هېواد کې د مېلیونونو نیالګیو کینول، د ځنګلونو د قاچاق مخنیوی، د لسګونو سربندونو او کاریزونو بیا رغول، د چکډیمونو جوړول، پر پلازمېنه سربېره مختلفو ولایتونو کې د زرګونه کیلو متره سړکونو رغول، د ښاري پراختیا پروژو پلې کول، د له منځه تللو دولتي ودانیو د بیا آبادولو او نورو بېلا بېلو رغنیزو پروژو تر څنګ خلکو ته کاري زمینې او آسانتیاوې رامنځته شوې دي. دغه راز په هېواد کې د کوچنیو، منځنیو او سترو کانونو د اکتشاف او استخراج چارې روانې دي. په کور دننه د اوبیزې برېښنا د تولید ترڅنګ د لمریزې برېښنا د تولید پروژې پیل شوې دي. د ترانزیټ او سوداګریزو لارو په برخه کې پروژې پیل شوې دي چې ښه مثال یې د کابل- کندهار او سالنګونو لویو لارو بیارغونه ده. په هېواد کې د سوداګرۍ د ودې له پاره رېل پټلۍ جوړولو چارې روانې دي او له ځینو خو یې عملاً ګټه پورته کېږي.

ددې رغنیزو پروژو ترڅنګ په ۱۴۰۲ لمریز کال کې اسلامي امارت یو شمېر بنسټیزې پروژې پیل کړې دي. له دې جملې څخه کولای شو د شبرغان- دښت الوان او له هغه ځایه بیا د کابل تر ارغندۍ پورې د ۵۰۰ کیلو ولټ برېښنا مزي غځولو پروژه، د اقتصادي کمیسیون له لوري د کابل- جلال اباد دوهم سړک جوړېدو طرحې منظورېدل، د قوش تېپې کانال د لومړي فاز بشپړېدل او د دوهم فاز د چارو پیلېدل، د آمو نفتي حوزې د ۸ نویو څاګانو څخه د تېلو د استخراج پیل، له هرات څخه تورغونډۍ او له اندخوی څخه تر مزارشریف او همدارنګه له هرات څخه د کندهار تر سپین بولدک پورې د رېل پټلۍ طرحې، د کابل په سروبي ولسوالۍ کې د خصوصي سکټور له لوري د شاوخوا دوه مېلیاردو افغانیو په ارزښت د لمریزې برېښنا پروژې پیلېدل، د هرات نورالجهاد سب سټېشن څخه تر پل هاشمي سب سټیشن پورې د ۲۲۰ کیلوولټ مزي غځول او د لویو لارو په اوږدو کې د ۷۵ جوماتونو جوړول، دا ټولې هغه پروژې دي چې د اسلامي امارت له لوري منظورې او چارې یې روانې دي. له دې پروژو څخه یې ځینې بشپړې او پر ځینو نورو یې کار روان دی. دغه راز د ملي تدارکاتو کمېسیون چې مشري یې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند پر غاړه ده، په روان لمریز کال کې یې د لسګونو میلیاردو افغانیو په ارزښت بېلا بېلې پروژې منظورې کړې دي. له دې څخه جوته شوه چې اسلامي امارت د هر سکټور د پرمختګ له پاره ګامونه پورته کړي دي. هڅه یې داده چې افغانستان د برېښنا د تولید، د کرنیزو محصولاتو او صنعتي تولیداتو په برخه کې پرځان بسیا کړي او ترڅنګ یې د هېواد له پربمانه اوبو څخه په هغه ډول ګټه پورته کړي لکه څنګه چې لازمه ده. دغه راز اسلامي امارت د یو شمېر کانونو استخراج پیل کړی چې کولای شي په هېواد کې دننه د صنعتي کارخونو له پاره اومه مواد برابر، عواید به یې د هېواد اقتصادي ثبات په برخه کې رغنده رول ولوبوي او تر څنګ به هېوادوالو ته د کار زمینه هم برابره شي. لنډه دا چې اسلامي امارت زېربناوو جوړولو ته ځکه لومړیتوب ورکړی چې له زېربنا پرته د یوه هېواد پرمختګ ناشونی دی. کله چې زېربناوې ورغېدې نو بیا هم اقتصاد پیاوړی کېږي او هم مو هېواد پرمختګ کولای شي.

# د اقتصادي
# او ملي تداركاتو کمېسیونونو
# او د پانګونې بین الوزارتي کمېټې
# غونډې






# اقتصادي کمېسیون د برېښنا یوشمېر پروژې تائید کړې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د روان لمریز کال د قوس میاشتې په ۲۳مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم پر ټاکل شوو موضوعاتو بحث وشو.

د اقتصادي کمېسیون یادې غونډې ته د هرات ولایت د پل هاشمي سب سټېشن جوړولو، له نورالجهاد سب سټېشن څخه تر پل هاشمي سب سټېشن پورې د ۲۲۰ کیلو ولټ سنګل سرکټ د انتقال لین او په هرات ولایت کې د ۲۲۰ کیلو ولټ موبایل سب سټېشن پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې، چې تر هراړخیز بحث وروسته یادې پروژې د اقتصادي کمېسیون له لوري په پرنسیپ کې تایید او د نظر اخیستنې لپاره د اوبو او انرژۍ وزارت ته راجع شوې څو یې په اړه خپل نظر له اقتصادي معاونیت سره شریک کړي. پر یادو پروژو شاوخوا دوه میلیارده افغانۍ پانګونه کېږي، چې په بشپړېدو سره به یې له ترکمنستان څخه د برېښنا مزی هرات ولایت ته وصل شي.

په یاده غونډه کې همدا راز د ۷۷ ترکي او زولرستان شرکتونو له لوري د کابل ولایت په سروبي ولسوالۍ کې د ۲۲,۷۵ مېګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژه هم د منظورۍ لپاره وړاندې شوه، چې تر هراړخیز بحث وروسته په پرنسیپ کې تایید او د نظر اخیستنې لپاره اوبو او انرژۍ وزارت ته راجع شوه، څو د یادې پروژې په اړه خپل نظر له اقتصادي معاونیت سره شریک کړي.

د غونډې په پای کې په افغانستان کې د خوړو نړیوال پروګرام د بشري مرستو رسوونکو موټرونو د خاک پولي او ترازوګانو د فیس په اړه هم هراړخیز بحث وشو. تر مفصل بحث وروسته پرېکړه وشوه چې په افغانستان کې د خوړو نړیوال پروګرام د بشري مرستو رسوونکو موټرونو ته خاک پولي او د ترازوګانو فیس معاف دی او هغه خصوصي ټرانسپورټي شرکتونه به بیا دا فیس تادیه کوي، چې د خوړو نړیوال پروګرام سره د بشري مرستو رسولو قراردادونه لري. همدارنګه د خوړو نړیوال پروګرام مکلف وبلل شو څو د ټولو هغو توکو خریداري په افغانستان کې دننه وکړي چې دلته پیدا کېږي.



اقتصادي کمېسیون ته؛

# د مس عینک کان د استخراج لپاره نوې طرحه وړاندې شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د ټاکل شوو موضوعاتو په اړه بحث وشو.

د اقتصادي کمېسیون یادې غونډې ته د MCC چینایي شرکت له لوري د مس عینک کان د انکشاف او همدارنګه د پروژې د ژر پیل لپاره د ځمکې لاندې کان کیندنې په مېتود نوې طرحه د بحث لپاره وړاندې شوه. په غونډه کې تر مفصل او هراړخیز بحث وروسته د کانونو او پټرولیم وزارت په مشرۍ بین‌الوزارتي کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د وړاندې شوې طرحې په اړه له قراردادي شرکت سره تخنیکي ناستې ترسره او خپل راپور دې اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.

په یاده غونډه کې همدا راز د کانونو او پټرولیم وزارت له لوري د قشقري نفتي او ګازي بلاک د قرارداد وضعیت څېړلو راپور هم وړاندې شو. وړاندې شوی راپور له ارزونې وروسته تایید او د کانونو او پټرولیم وزارت په مشرۍ بین‌الوزارتي کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو په هېواد کې د مازوت نفتو د تصفیې خونې جوړولو په برخه کې پانګوال جذب او په ټولو معیارونو برابره تصفیه خونه جوړه کړي.

د اقتصادي کمېسیون په یاده نوبتي غونډه کې د بدخشان ولایت له بهارک څخه تر اشکاشم ولسوالۍ پورې د غځېدلي سړک د پاتې ۲۰ سلنه چارو د بشپړولو لپاره د مالي سرچینې پیدا کولو موضوع هم د بحث لپاره وړاندې شوه. په غونډه کې تر مفصل بحث وروسته پرېکړه وشوه څو د ټولګټو وزارت د یادې پروژې د ټولو تخنیکي او مالي اړخونو ارزونه ترسره او خپل راپور دې د اقتصادي معاونیت له مقام سره شریک کړي. دغه سړک ۱۵۰ کیلومتره اوږدوالی لري چې ۸۰ سلنه چارې یې بشپړې شوې دي.

په یاده غونډه کې همدا راز د نفت او ګازو دولتي شرکت، نورم او سټنډرډ ملي اداري او ملي تدارکاتو ریاست له استازو څخه جوړې شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د دولتي ادارو د تېلو د هغو قراردادونو په هکله چې اټکلي قیمت یې تر ۲۰ میلیونو افغانیو زیات وي، په دې اړه ګډې تخنیکي ناستې ترسره او خپل راپور د اقتصادي معاونیت له مقام سره شریک کړي.

د اقتصادي کمېسیون په یاده نوبتي غونډه کې د قیمتي او نیمه قیمتي ډبرو په تړاو د مشرقي ولایتونو د ولسوالو غوښتنې هم د بحث لپاره وړاندې شوې. تر مفصل بحث وروسته ټاکل شوې بین الوزارتي کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د یادې موضوع هراړخیزه ارزونه ترسره او خپل راپور د اقتصادي معاونیت له مقام سره شریک کړي.

# اقتصادي کمېسیون د افغانستان اوسپنې پټلۍ اداره دې له هرات څخه تر تورغونډۍ او اندخوی څخه تر مزارشریف پورې د اوسپنې پټلۍ شبکو کارونه بشپړ کړي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د ټاکل شوو موضوعاتو په اړه بحث وشو.

د اقتصادي کمېسیون په یاده نوبتي غونډه کې تر مفصل بحث وروسته پرېکړه وشوه چې د افغانستان اوسپنې پټلۍ اداره دې له هرات څخه تر تورغونډۍ او اندخوی څخه تر مزارشریف پورې د اوسپنې پټلۍ شبکو کارونه بشپړ کړي همدا راز یادې ادارې ته دنده وسپارل شوه تر څو له هرات څخه د کندهار تر سپین بولدک پورې د اوسپنې پټلۍ شبکې غځولو هر اړخیز پلان چمتو او له وړاندیزونو سره یو ځای یې دې د اقتصادي معاونیت مقام ته وړاندې کړي. د اقتصادي کمېسیون د ګډونوالو په وینا؛ د یادو شبکو په بشپړېدو سره به د افغانستان او مرکزي اسیا هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ او ترانزیټ کچه زیاته او په دې برخه کې به ګڼې آسانتیاوې رامنځته شي.

په دغه ناسته کې له فتحې مخکې پر دولتي ادارو د قراردادي شرکتونو د پاتې تضميناتو، تاميناتو او طلباتو د لس سلنې ورکړې په اړه د مالیې وزارت له لورې د تثبیت اړوند ترسره شوی راپور هم تأیید شو.

د اقتصادي کمېسیون په یاده نوبتي غونډه کې د ټاپ پروژې سکرتریت جوړېدل منظور او د تشکیل په موخه د تشکیلاتو او معاشاتو کمېسیون ته راجع شو. د ټاپ پروژې سکرتریت د اوبو او انرژۍ وزارت په مشرۍ له اړوندو سکټوري وزارتونو څخه جوړ دی، چې د یادې پروژې تخنیکي او حقوقي چارې به پر مخ بيايي.

په دغه غونډه کې د افغانستان علومو اکاډمۍ له لوري د چرګانو د ذبحې په موخه جوړ شوی لارښود د خوړو او درملو ملي ادارې د وړاندېزونو په نظر کې نیولو سره تایید شو او د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت مکلف وبلل شو څو یاد لارښود په جدیت سره تطبیق کړي.

د غونډې په پای کې تر هراړخیزې ارزونې وروسته افغان پُست شرکت ته په ترانزیټي وسایطو کې د GPS نصبولو قرارداد ورکړل شو او دغه شرکت مکلف وبلل شو څو د یوې میاشتې په جریان کې د یادې موضوع په اړه خپل راپور له اقتصادي کمېسیون سره شریک کړي. د یادونې وړ ده چې د دغه قرارداد له مخې افغان پُست شرکت پر هر ترانزیټي موټر د ۴۱ ډالرو فیس په مقابل کې GPS نصبوي



## ملي تدارکاتو کمېسیون د ٤ میلیاردو افغانیو په ارزښت

# یـــو شمېر پروژې منظورې کــړې

د ریاســـتالوزراء اقتصادي مرســـتیال محترم مــــلا عبدالغني بــرادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره ســم د وړاندې شوو پروژو په اړه بحث وشو.

د ملي تدارکاتو کمېسیون یادې غونډې ته ۲۸ پروژې د بحث لپاره وړاندې شوې چې له جملې یې د ۱۸ پروژو قراردادونه منظور او د ۵ پــروژو د قراردادونو په اړه ټاکل شویو کمېټو ته دنده وسپارل شوه، څو دغــه قراردادونه پــه هراړخیز ډول وڅېــړي او د نهایي تصمیــم نیونې په موخه یـــې د ملي تدارکاتو کمېســیون راتلونکــي مجلــس ته وړانــدې کړي. همدارنګــه د ۵ نورو پــروژو په اړه ملي تدارکاتو ریاســت ته دنده وسپارل شوه څو یــاد قراردادونه پــه هراړخیز ډول و ارزوي او راپــور یــې د مــلي تدارکاتو کمېسیون له مشرتابه سره شریک کړي.

منظور شوې پروژې د ملي دفاع، کورنیو چارو، مالیــې، ټولګټــو، د مخابراتو او معلومــاتي ټکنالــوژۍ وزارتونــو، د افغانســتان برېښــنا شرکــت او کابل ښــاروالۍ اړوند دي، چې ټولیز ارزښت یــې شــاوخوا ۴ میلیــارده افغانیو ته رسېږي. په یادو منظور شوو پروژو کې د چک وردګ بند د پاتې چارو بشپړول، له ارغندۍ تر غزني پورې د ۲۲۰ کیلو ولټ برېښنا د لین غځولو پاتې چارو بشپړول، د هــرات او تورغونــډۍ د نورالجهاد د ۲۲۰ کیلوولټ لین د انســولټرونو چمتو کــول، د زابــل ولایــت له شــهر صفا ولســوالۍ تــر مانجې ســیمې پورې د غځېدلي ســړک اساســي بیارغونه، د کابل-لوګر ســړک د دوهم لین د پاتې چارو بشپړول، هېوادوالو ته د باکیفیته او چټکو انټرنیټي خدمتونو وړاندې کول او یوشمېر نورې پروژې شاملې دي، چې په پلې کېدو سره به یې زرګونو هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر شي.









ملي تدارکاتو کمېسیون؛

# د ۱۰ میلیارده افغانیو په ارزښت ۲۴ پروژې منظورې کړې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د وړاندې شوو پروژو په اړه بحث وشو. د ملي تدارکاتو کمېسیون یادې غونډې ته ۲۷ پروژې د بحث لپاره وړاندې شوې چې له جملې یې د ۲۴ پروژو قراردادونه منظور او د ۳پروژو د قراردادونو د ارزونې په موخه ملي تدارکاتو ریاست او اړوندو وزارتونو ته دنده وسپارل شوه، څو دغه قراردادونه په هراړخیز ډول وڅېړي او راپور یې د ملي تدارکاتو کمېسیون له مشرتابه سره شریک کړي.

منظور شوې پروژې د ملي دفاع، کورنیو چارو، ټولګټو، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ، عامې روغتیا، اوبو او انرژۍ وزارتونو، د افغانستان برېښنا شرکت او کابل ښاروالۍ اړوند دي، چې ټولیز ارزښت یې شاوخوا ۱۰ میلیارده افغانیو ته رسېږي.

په یادو منظور شوو پروژو کې د پارنده پنجشیر د مایکرو هایدل برېښنا بند، زابل ولایت کې د توري بند د پاتې چارو بشپړول، په کابل ښار کې د ځینو مهم سړکونو اساسي جوړول، په مختلفو ولایتونو کې هېوادوالو ته د برېښنا رسول، پر ښارونو سربېره په لرې پرتو سیمو کې هېوادوالو ته د باکیفیته او چټکو انټرنیټي خدمتونو وړاندې کول او یوشمېر نوري پروژې شاملې دي، چې په پلې کېدو سره به یې زرګونو هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر شي.

# کمیسیون اقتصادی؛ رویالیتی و تعرفه گمرکی تالک را کاهش داد

به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء به تاریخ ۲۸ام جدی نشست نوبتی کمیسیون اقتصادی در قصر مرمرین تدویر و طبق آجندا بر موضوعات تعیین شده بحث شد.

در این نشست کمیسیون اقتصادی پیرامون کاهش رویالیتی و تعرفه گمرکی تعیین شده تالک بحث شد. بعد از بحث مفصل فیصله شد تا بالای فی تن تالک استخراج شده که نیمه پروسس شده باشد، رویالیتی فی تن آن از ۱۸۰۰ افغانی به ۱۲۰۰ افغانی و تعرفه گمرکی آن از ۱۰۰۰ افغانی به ۸۰۰ افغانی کاهش داده شود. در جلسه فیصله گردید که این تصمیم فقط در مورد تالک موجود در ساحه گرفته شده است و در صورت آغاز دوباره استخراج در حصهٔ رویالیتی و نیز پیرامون تعرفه گمرکی آن تجدید نظر می شود. همچنان تاجر تالک مکلف گردید تا تالک موجوده در ساحه را در ظرف پنج ماه صادر نماید.

همچنان در نشست یاد شده طرح اعمار مارکیت تجارتی ملت در ساحه کوته سنگی کابل از سوی سکتور خصوصی با در نظرداشت نظریات کمیسیون اقتصادی منظور گردید. به اساس این طرح سکتور خصوصی مارکیت ۱۲ طبقه ای را در حدود ۳۲۴ میلیون افغانی سرمایه گذاری اعمار می کند.

طرح اعمار مارکیت تجارتی و رهایشی در لشکرگاه ولایت هلمند که از سوی سکتور خصوصی ارایه شده بود از جانب کمیسیون اقتصادی نیز منظور شد. بر مبنای این طرح سکتور خصوصی مارکیت تجارتی و رهایشی پنج طبقه‌ای را به ارزش حدود ۴۰۰ میلیون افغانی سرمایه گذاری اعمار می نماید. در ختم جلسه طرزالعمل بورد مشورتی اقتصادی افغانستان با وزارت‌خانه‌ها و ادارات عضو کمیسیون اقتصادی شریک ساخته شد. به تمامی اعضای کمیسیون هدایت داده شد تا جهت غنی ساختن طرزالعمل مذکور به جلسه آینده کمیسیون اقتصادی نظریات خویش را پیشکش نمایند. اعضای بورد مشورتی اقتصادی افغانستان متشکل از استادان، آگاهان مسایل اقتصادی و تاجران ملی می باشد، که برای امارت اسلامی در امور مسایل مهم اقتصادی مشوره می دهند.





اقتصادي کمېسیون

# د کابـــل - جـــلال آبـاد

## د دوهم سړک جوړولو پروژه تایید کړه


د اقتصادي کمېسیون په نوبتي غونډه کې چې د روان لمریز کال د سـلواغې میاشـتې په درېیمه نېټه پـه مرمرینه ماڼۍ کې جـوړه شـوې وه، د کابل - جلال آبـاد د دوهم سـړک جوړولو پر پـروژې، د مـازادو او خوراکي غنمو د پېرلو پر تګلارو، د کابل ولایت په ختیځه سـیمه کـې د برېښـنایي دروازو د کمپلېکس پر جوړولو او یوشـمېر نورو موضوعاتو بحث وشو.

په غونـډه کې چـــې د ریاسـت الـوزراء اقتصـادي مرسـتیال محترم ملا عبدالغني بـرادر اخوند په مشرۍ جوړه شوې وه، تر هراړخیز بحث وروسته د کابـل- جـلال آباد د دوهم سـړک جوړولو پروژه تائید شـوه. دغه پروژه د مالي سرچینـې معلومولو او د منظورۍ په موخه د اسلامي امارت مشرتابه عالي مقام دفتر ته واستول شوه.

په غونډه کـې د کرنـې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت له لوري د مازادو غنمو او د امـارتي مرکزي سـیلو شرکت له لوري د خوراکي غنمو د پېرلو په اړه پر جوړو شوو تګلارو بحث وشو. تر هراړخیز بحـث وروسـته د اقتصادي کمېسـیون د تخنیکي کمېټې له لوري د راغلو تعدیلاتو په نظر کې نیولو سره د کرنـې، اوبولګولو او مالـدارۍ وزارت وړاندې شوې تګلاره تایید او د منظورۍ لپاره د افغانسـتان اسـلامي امارت د مشرتابه مقام دفتر ته راجع شوه. د دغه تګلارې له مخـې به د کرنې، اوبولګولو او مالـدارۍ وزارت د بزګرانو د ملاتړ په موخه د غنمو د حاصلاتو په موسم کې په مناسـبه بیه غنم پېري او د اړتیا پر مهال به یې د بیو د کنټرول او احتکار د مخنیوي په موخه بازار ته وړاندې کوي.

د اقتصادي کمېسـیون په یاده نوبتي غونـډه کې د کابل ولایـت په ختیځه سـیمه کـې د برېښـنایي دروازو د کمپلېکس جوړولـو طرحه هم منظوره شـوه. د دغه طرحـې پر اسـاس به خصوصي سکټور د لسـو کلونو لپاره د عامـه – خصوصي مشـارکت له لارې پانګونه کـوي، چې د لومړیو دوو کلونو پر مهال به ۵۱ سـلنه او لـه درېیم تر لسم کال پورې به ۹۰ سـلنه عواید د دولت خزانې ته جمع کېږي.







# د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي ناسته

## په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي ناسته په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د پانګونې وړاندې شوو طرحو په اړه هراړخیز بحث وشو. یادې ناستې ته د خصوصي سکټور له لوري په مزارشریف ښار کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت پر ځمکه د سوداګریز مارکېټ او د کابل ښار د څلورمې ناحیې اړوند تایمني سیمه کې د راه ابریشم هستوګنیز او سوداګریز ښارګوټي د جوړولو طرحې وړاندې شوې. تر مفصل بحث وروسته ټاکل شویو کمېټو ته دنده وسپارل شوه، څو د یادو طرحو تخنیکي او اقتصادي ارزونه ترسره او راپور یې د پانګونې بین الوزارتي کمېټې راتلونکې ناستې ته وړاندې کړي.



## د پانګونې لسګونو شرکتونو

# د ۱۰میلیارده او ٦٥٤ میلیون ډالرو په ارزښت

## پانګونې ته لېوالتیا ښودلې

### د افغانستان اســـلامي امارت په هېواد کې کورنی او بهرنـــی پانګونـــې تـــه زمینـــه برابـــره کـــړې ده

د روان لمریز کال په لړ کې لسګونو کورنیو او بهرنیو کمپنیو په مختلفو سکتورونو کې د شـــــاوخوا **۱۰ میلیارده او ۶۵۴ میلیون** ډالرو په ارزښت پانګونې ته لېوالتیا ښودلې ده.

**د پانګونې سکتورونه**



کانونه
کرنه
برېښنا
روغتیا
زېربنا
ترانسپورټ
کوچنی - منځنی تشبثات

**د پانګونې نورې برخې:**



۱ ګمرکونو عصري کول
۲ برېښنايي حکومتولي
۳ هوايي ډګرونو کې خدماتو وړاندې کول
٤ ترانزيټ
٥ صنعتي پارکونو جوړول
٦ رېل پټلۍ

**يادې کمپنۍ په مختلفو هېوادونو کې د پانګونې اوږده مخينه لري:**



- ګاونډيو
- سيمې
- عربي
- او لوېديځو هېوادونو

له کورنیو او بهرنیو کمپنیو سره د کانونو اســـتخراج او پروسس، برېښنا لېږد او زېربناوو جوړولو په برخه کې قراردادونه ترسره شوي دي چې د پانګونې ټولیز ارزښت يې **۶ ميليارده** او **۶۸۲ ميليون** ډالرو ته رسيږي.

همدارنګه د برېښنا د تولید، سوداګریزو مرکزونو او اقتصادي زونونو جوړولو، ترانسپورټ، برېښنايي حکومتولۍ، د ګمرکونو عصري کولو او نورو برخو کې به هم په نږدې راتلونکي کې له کورنیو او بهرنیو کمپنیو سره قراردادونه لاسليک شي.

## د پــروژو
# پرانیسته



# د ســــالــنګ تــونـــل

## ګټې اخیستنې ته وسپارل شو

د ریاســـتالوزراء اقتصادي مرســـتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان لمریز کال د قوس میاشتې په ۲۹ مه نېټه د سالنګ لویې لارې تونل او ۱۶ مه ګالرۍ ګټې اخیســـتنې ته وســـپارل شول. په دغو مراسمو کې د ټولګټو وزارت سرپرســـت ملا محمد عیســـی ثاني، د خصوصي ســـکټور اســـتازو او یوشـــمېر امارتي مسوولینو هم حضور درلود.

د ریاســـتالوزراء اقتصادي مرســـتیال محترم مـــلا عبدالغني بـــرادر اخوند په همدې مناســـبت جوړ شوو مراسمو ته د خپلـــو خبرو پر مهال وویـــل: «یو ملت په اقتصادي لحاظ هغه مهال پر پښو درېږي او د خودکفایـــی پر لور ګامونه اخلي کله چې ســـالمه زېربنا ولـــري. زموږ د هېواد زېربنا د تېرو ځلوېښـــتو کلونو د جګړو له امله سخته صدمه لیدلې ده. د اقتصاد د اساســـاتو رغولو اهمیت اسلامي امارت درک کـــړی دی، ځکه یـــې د اقتصادي پالیسۍ مهمه برخه ګرځېدلې ده».

محترم ملا صاحب زیاتـــه کړه، څه موده وړانـــدې دوی په همدې ســـیمه کې د سالنګ لارې د اساسي بیارغونې د کار د پیل افتتاح درلوده، ډېر وخت نه دی تېر شـــوی چې نن یې د ځینو اساسي برخو لکه تونل، ګالریو او نورو ســـاحو د کار د پوره کېدو او ګټې اخیستنې ته د سپارلو پرانیســـته کوي. د محترم ملا صاحب په خبره، دا برخې په داسې اساسي ډول د افغان انجنیرانو له لوري رغول شوې دي چې په تېرو شـــلو کلونو کې یې ساری نه دی لیدل شوی.

محترم مـــلا عبدالغني بـــرادر اخوند د سالنګ لویې لارې اهمیت ته په اشارې سره وویـــل، د دې لارې اهمیت په دې کې دی چې د هېواد د شمال او جنوب د نښـــلولو ترڅنګ د جنوبي او منځنۍ اسیا هېوادونو له پاره د ترانزیټ په برخه کـــې مهـــم رول لوبـــوي، د ګاونډیـــو هېوادونو د تجارتي توکو په لېږد رالېږد کې به ډېرې اســـانتیاوې رامنځته او له دې لارې بـــه د ســـوداګریزې راکـــړې ورکړې حجم زیات شي.

د ریاســـتالوزراء اقتصادي مرســـتیال هېوادوالو ته د سالنګ لویې لارې څخه د تېرېـــدو پر مهال د لا نورو اســـانتیاوو برابرولـــو او همدارنګه د ســـوداګرۍ او ترانزیـــټ کچې د زیاتېدو پـــه اړه وویل، اســـلامي امارت په پـــام کې لري چې د امکاناتو په برابرېدو سره د سالنګ دوهم تونل هم وبـــاسي او لـــه حیرتان څخه تورخم ته د اوسپنې پټلۍ وغځوي، چې په دې سره به په ترانزیټ کې زیاتوالی او هېوادوالو ته به بې شـــمېره اسانتیاوې رامنځته شي.

محـــترم ملا صاحـــب په وخت او ښـــه کیفیت سره د سالنګ لویې لارې د تونل او ګالریو د اســـاسي بیارغونې له امله د



ټولګټو وزارت، قراردادي خصوصي شرکتونو او انجنیرانو له مخلصانه هڅو مننه وکړه او ملت ته یې زېری ورکړ چې سر له نن ورځې دغه لویه لار د هر ډول تګ راتګ له پاره چمتو ده.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ملت ته ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت په پوره اخلاص او صداقت سره د هېواد د آبادۍ لپاره هڅې کوي او ټولې کړې ژمنې به په عمل کې ثابتې کړي. محترم ملا صاحب په همدې موخه له ټولو افغانانو وغوښتل څو د اسلامي امارت کلک ملاتړ وکړي.

د یادولو وړ ده چې د سالنګ لویې لارې د تونلونو او ګالریو اساسي بیارغونه د افغانستان اسلامي امارت په ملاتړ د خصوصي سکټور له لوري له ټاکل شوي وخت مخکې په ښه کیفیت سره بشپړه او د هر ډول تګ راتګ په موخه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

**«یو ملت په اقتصادي لحاظ هغه مهال پر پښو درېږي او د خودکفایۍ پر لور ګامونه اخلي کله چې سالمه زېربنا ولري.»**

# آمو نفتي حوزه

## له ۸ نورو څاګانو څخه د نفتو استخراج پیل شو

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان لمریز کال د قوس میاشتې په ۷مه نېټه په سرپل ولایت کې د آمو نفتي حوزې له ۸ نورو څاګانو څخه د نفتو د استخراج پرانیسته وکړه. په یادو مراسمو کې د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ شهاب‌الدین دلاور او د سرپل ولایتي مسوولینو هم حضور درلود.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته د خپلو خبرو پر مهال وویل، اسلامي امارت د ټولو ولایتونو متوازن پرمختګ ته پاملرنه کړې او دا دي نن موږ په سرپل ولایت کې د یوې مهمې پروژې د پرانیستې شاهدان یو، چې ډېره ګټه به یې د همدغه ولایت اوسېدونکو ته ورسېږي.

د محترم ملا صاحب په خبره، د دغه مهمې پروژې په پیلېدو سره به په سرپل ولایت کې لوی مجهز روغتون، د خلکو له غوښتنې سره سم معیاري سړک او همدا راز د اوبو بند هم جوړ شي، چې زرګونو کسانو ته به کاري فرصتونه برابر او د هېواد په اقتصادي وده او د عوایدو په زیاتوالي کې به مهم رول ولوبوي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له قراردادي شرکت وغوښتل څو د یادې پروژې کارونه د قرارداد مطابق په ښه ډول ترسره او د سرپل ولایت د اوسېدونکو اړتیاوو ته په کتو دې په دغه ولایت کې عام‌المنفعه پروژې بشپړې کړي.

د یادولو وړ ده چې د آمو نفتي حوزې د ۸ نورو څاګانو په فعالېدو سره به د نفتو په استخراج کې په ورځني ډول ۸۰۰ مترمکعب زیاتوالی راشي او ټاکل شوې چې په نږدې راتلونکي کې به یې ۱۰ نور څاګان هم فعال شي. د آمو نفتي حوزه کې اوسمهال ۳۵۰ انجنیران او ۵۵۰ کارکوونکي په مستقیم ډول پر کار مصروف دي، چې د ۸ نورو څاګانو په فعالېدو سره به یې په شمېر کې زیاتوالی راشي.






د عالیقـــــدر امیـــرالمـــؤمنین حفظه الله د حکـــــم پـر بنسټ،

# د هېواد د لویو لارو په هرو ۷۰ کیلومتــــرو واټن کـــې یو یو مسجد رغول کیږي

د ریاسـتالوزراء اقتصـادي مرسـتیال محـترم مـلا عبدالغني بـرادر اخوند د روان لمریـز کال د جدي میاشـتې په ۱۲مـه نېټه د کندهـار ولایت په دامان ولسـوالۍ کـې د کابل - هـرات لویې لارې پـر سر د مسـجد د جوړېدو چارو پرانیسـته وکړه. په دغو مراسـمو کې د ټولګټـو سرپرسـت ملا محمد عیسـی ثـاني، د کندهـار ولایتـي مسـوولینو، علـماوو او ګـڼ شـمېر هېوادوالـو هم ګډون کړی و.

د ریاسـتالوزراء اقتصـادي مرسـتیال محترم مـلا عبدالغني بـرادر اخوند په همدې مناسـبت جوړو شوو مراسمو ته وویل، د هېوادوالو ستونزو ته رسېدنه او ورتـه د ژوند ټولـې اړینې اسـانتیاوې برابرول د اسلامي امارت مسوولیت دی او پـه دغـه برخه کـې پـه جدیت سره هڅې کـوي. محترم مـلا صاحب زیاته کـړه، چـې د اسـلامي امـارت لـه بیا واکمنېدو وروسته په هېواد کې سلګونه پـروژې پیـل او د رغونې چـارې یې په چټکۍ سره روانې دي.

د ریاسـتالوزراء اقتصـادي مرسـتیال همـدا راز وویل چې اوسـمهال په ټول هېـواد کـې د شـاوخوا ۵۰۰ لویـو او متوسـطو پروژو چارې روانې دي، چې لـه امله یې زرګونـو هېوادوالو ته کاري فرصتونـه برابـر شـوي دي. محترم ملا عبدالغنـي بـرادر اخونـد هېوادوالو ته زیـری ورکړ چې د بدخشـان ولایت په واخان کې د هغه سـړک چارې هم پیل شـوې دي، چـې لـه مخـې بـه یـې افغانستان له چین سره ونښلول شي.

د یادونـې وړ ده چـې د عالیقـدر امیرالمؤمنیـن حفظـه اللـه د حکم پر بنسټ، د ټولګټو وزارت له لوري د هېواد د لویـو لارو په هـرو ۷۰ کیلومټرو واټن کـې په ۲۸ ولایتونو کې ۷۵ مسـجدونه رغول کېـږي. په یادو مسـجدونو کې د لویـو او کوچنیـو وسـایطو لپـاره جـلا پارکینـګ، د مـلا امـام لپـاره ځانګړې هسـتوګنځی، د نارینه او ښځینه لمونځ کوونکو لپـاره د اوداسـه او لمانځه جلا ځایونه په نظر کې نیول شوي دي چې د چارو له بشـپړېدو وروسـته بـه د حج او اوقافو وزارت ته وسپارل شي.

د یادونې وړ ده چې پر دغه هر مسـجد ۳۵,٤ میلیونه افغانۍ لګښـت راغلی او پـه یو وخـت د ۳۰۰ لمونـځ کوونکو د ځایېدو ظرفیت لري.



معاون اقتصادی ریاست الوزراء:

# با تکمیل امور پـروژهٔ انتقال ۵۰۰ کیلـو ولت لین

# زمینه انتقال صدها میگاوات بـرق به کشور فراهم می گردد

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاسـت الوزراء ۳۰ ام قوس سـال روان پروژه های انتقال لین ۵۰۰ کیلو ولت برق از شـبرغان الی دشـت الـوان و از دشـت الوان تـا منطقه ای ارغندی کابل را افتتاح نمود.

در این مراسـم اعضای محـترم کابینه، نماینده گان سکتور خصوصی، شماری از مسـئولین امارتـی و مـردم شریـف ولایت بغلان نیز حضور داشتند. محترم ملا عبدالغنی برادر آخند در مراسـمی کـه به همین مناسـبت تدویـر گردیده بود، حین سخنان خویش گفت، امارت اسـلامی در برابـر رهایـی از احتیـاج دیگران و ساختن افغانستان صنعتی و اقتصـادی عـزم متین نمـوده و به این سرزمیـن مقـدس و ملت شریـف تعهد دارد، تا در جهت افغانسـتان متکی به خود هر نوع سـعی و تـلاش نماید و از تمامی امکانات موجود استفاده خواهد کرد. محـترم ملا صاحب افـزود، اینکه برق یک نیاز مبرم کشـور است، از اینرو امارت اسلامی در مقایسه به بسیاری از امور زیربنایی به این بخش اولویت داده و از سرمایه گذاران خواسته است، تا در این سکتور سرمایه گذاری نمایند.

معاون اقتصادی ریاسـت الـوزراء با در نظرداشت ضرورت برق گفت، که امارت اسـلامی قرارداد تکمیل امور باقیماندهٔ برق انتقالی ترکمنستان از شبرغان الی دشت الوان را به شرکت افغان انویست به امضاء رسانیده و قرارداد تکمیل امور باقیماندهٔ آنرا از دشـت الوان تا منطقه ارغندی کابل را بـا شرکت عوفی بهرام منعقد نموده است.

بـه گفته محترم ملا صاحـب، با تکمیل امور این پـروژهٔ انتقـال ۵۰۰ کیلو ولت لین زمینه انتقال صدها میگاوات برق به کشور فراهم می گردد و از طریق امتداد این لین از کابل به ولایات جنوبی کشور انتقال برق تامین می شود، که در اثر آن افغانسـتان از بابت پرداخت قیمت برق وارداتـی اضافه تـر از ۲۰۰ میلیون دالر سـالانه صرفـه جویـی خواهد داشـت.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء به تمامی شـهروندان اطمینـان داد کـه امـارت اسـلامی جهت رسـیدن به خودکفایی تولید برق را در داخل کشور اولویت می دهد تا صلاحیت آن را به دست داشته و نیز بـه قیمت مناسـب به مـردم عرضه نماید، که قابل قبول آنها باشد.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند از همه سرمایه گذاران خواسـت تا با صداقت و اخلاص کامـل سرمایه گذاری نمایند و برای مردم خود مصدر خدمت گردند، تا بـه ایـن وسـیله افغانسـتان در آینده نزدیک به خودکفایی برسد.

قابـل یاد آوریسـت که بـا تکمیل امور پروژه انتقال لین ۵۰۰ کیلو ولت برق از شـبرغان الی دشـت الوان، از دشـت الوان تـا منطقه ای ارغنـدی کابل، به قیمـت پائیـن صدها میـگاوات برق از ترکمنستان وارد، شش میلیون خانواده از برق مسـتفید و به این وسیله مشکل کمبود برق ۱۲ ولایت حل خواهد شد.

# کنفرانسونه، ناستې او
# سفرونه





## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند

## د بغلان بورې جوړولو او پلخمري نساجي فابریکو څخه لیدنه وکړه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند بغلان ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې د بغلان بورې جوړولو او همدارنګه د پلخمري نساجي فابریکو څخه لیدنه وکړه.

محترم ملا صاحب د یادو فابریکو د ماشینونو ترمیم او د فعالیت پیل د صنعت په برخه کې یوه ښه لاسته راوړنه یاده کړه او مسوولینو ته یې د کارونو د لا ښه‌والي او تولید کچې زیاتوالي په موخه لازمې سپارښتنې وکړې. د بغلان بورې جوړولو او همدارنګه د پلخمري نساجي فابریکو د اسلامي امارت په راتګ سره بیاځلې ترمیم او په عصري تجهیزاتو سمبال شوې دي. د پلخمري نساجي فابریکې دترمیم چارې په یو کال کې بشپړې شوې او له دوه میاشتو راپدېخوا د ټوکر، ململ، ریسمان او د نظامي ځواکونو د جامو د ځانګړي ټوکر په برخو کې عملاً تولید لري چې شاوخوا ۴۰۰ کسانو ته پکې دکار زمینه هم برابره شوې ده. د بغلان بورې جوړولو فابریکې د ترمیم چارې هم پای ته رسېدلې دي، چې اوسمهال پکې ۱۰۰ کسان پر کار مصروف دي او په نږدې راتلونکي کې به خپل تولیدات بازار ته وړاندې کړي. د یادونې وړ ده چې د بغلان د بورې جوړولو فابریکه د افغانستان د بورې ۳۰ سلنه اړتیا پوره کولای شي او تمه ده چې د تولید کچه به یې په نږدې راتلونکي کې نوره هم زیاته شي.






# محترم ملا عبدالغنی برادر آخند از شرکت سپین زر کندز دیدار نمود

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء ۲۹م قوس سال روان به ولایت کندز سفر نموده و با مسوولین این ولایت دیدار کرد.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند در دیدار با مسوولین این ولایت در مورد انجام بهتر امور هدایات لازم داد. معاون اقتصادی ریاست الوزراء هنگامی این سفر در حالی که مسوولین ولایتی کندز ایشان را همراهی می نمودند از شرکت دولتی کندز سپین زر نیز دیدن نمود. محترم ملا صاحب فعالیت شرکت مذکور را با ارزش توصیف نموده، از تلاش های که توسط مسوولین این شرکت صورت گرفته تحسین کرد و به آنها در مورد بهبود بیشتر امور هدایات لازم ارائه نمود. قابل یاد آوریست که با رویکار آمدن امارت اسلامی شرکت دولتی کندز سپین زر با تجهیزات عصری آراسته گردیده و با تهیه مواد خام چرخ اقتصادی آن به حرکت آمده که برای صدها تن در این شرکت زمینه کار فراهم شده است. اکنون این شرکت پنبه، روغن نباتی، کنجاره، صابون های مختلف، دستمال کاغذی، یخ موسمی و بوتل های پلاستیکی به سایزهای مختلف تولید می نمایند.










# د کډوالو نړیواله ورځ

## د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د امارتي مسئولینو له لوري ونمانځل شوه

د کډوالو نړیواله ورځ د روان لمریز کال د قوس میاشتې په ۲۷مه نېټه چې د ۲۰۲۳م کال د ډسمبر له ۱۸مې نېټې سره سمون لري، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې ونمانځل شوه.

په همدې مناسبت جوړ شوو مراسمو کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، د ریاست‌الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي، د کابینې محترمو غړو، د نړیوالو سازمانونو او په کابل کې د بهرنیو سفارتونو استازو او یوشمېر امارتي مسوولینو حضور درلود.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په همدې مناسبت جوړ شوو مراسمو ته وویل، د مختلفو لاملونو له امله په نړیواله کچه د کډوالو شمېر له سل میلیونو اوړي، چې له بده مرغه د ژوند له ډېرو اسانتیاوو محروم دي. د محترم ملا صاحب په خبره، که له یوه لوري په نړیواله کچه د کډوالۍ لاملونه ډېر شوي، ورسره جوخت له بل لوري د کډوالو اساسي حقوق او د هغوی په اړه نړېوال قوانین او بشري اصول هم تر پښو لاندې کیږي چې ښه بېلګه یې د ګاونډیو له لوري زموږ د افغان وروڼو په حق کې د هغوی پر اسلامیت، انصاف، ګاونډیتوب او بشریت نه ولاړې پرېکړې دي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د خپلو خبرو پر مهال زیاته کړه، د افغانانو په حق کې د دې جفا تر شا چې کوم اهداف وو مرتکبین یې په ترلاسه کولو کې ناکام شول او د افغانستان اسلامي امارت بیا د الله تعالی په فضل وتوانېد چې هېواد ته د راستنېدونکو کډوالو د راتګ ټولې چارې په ښه ډول مدیریت او د ژوند اړینې اسانتیاوې ورته برابرې کړي. محترم ملا صاحب له ټولو افغانانو، ملي سوداګرو، خیریه بنسټونو او د کډوالۍ په برخه کې له نړیوالو بنسټونو مننه وکړه، چې د دغه بحران په مدیریت کې د اسلامي امارت ترڅنګ ودرېدل او د خپل وس مطابق یې له راستنېدونکو افغان کډوالو سره مرستې وکړې. محترم ملا صاحب له دوی وغوښتل څو په راتلونکي کې هم خپلو مرستو او د کډوالو لاسنیوي ته دوام ورکړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال همدا راز د بشریت په حق کې د ملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې پر دوه مخي چلند تأسف څرګند کړ او زیاته یې کړه، چې د افغان کډوالو او په غزه کې له ۱۸ زره د زیاتو بې ګناه وګړو، ښځو او ماشومانو د قتل عام په اړه پر نمایشي غونډو بسنه کوي او پر اسلامي امارت بیا د ښځو د هغو حقوقو له امله بندیزونه او فشارونه واردوي، چې د بل هر وخت په نسبت اوسمهال په هېواد کې تأمین دي. محترم ملا صاحب پر ملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې غږ وکړ، چې د کډوالو حقوق وپېژني هغو ته درناوی وکړي او په تضمینولو کې یې خپل بشري مسوولیت اداء کړي. محترم ملا صاحب همداراز زیاته کړه، چې ملګري ملتونه دې په غزه کې د نامشروع جګړې، ړندې بمبارۍ او بې‌ګناه وګړو د بې کوره کېدلو د هغه بحران مخه ډب کړي چې د سبا مدیریت یې د نن تر مخنیوي ستونزمن دی. په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په بهر کې پر مېشتو ټولو افغان کډوالو غږ وکړ چې هېواد مو له امنیت او د ژوند له ښکلا برخمن شوی دی خپل کور ته راستانه شئ، اسلامي امارت ستاسې هر ډول خدمت د ځان مسوولیت ګڼي.



# د افغانستان او ایران ترمنځ د سوداګرۍ د زیاتوالي په موخه
## د ګډو کمېټو لومړنۍ ناسته ترسره شوه

د افغانستان او ایران ترمنځ د سوداګرۍ د زیاتېدو په موخه د ټاکل شویو ګډو کمېټو لومړنۍ ناسته ترسره او د دواړو هېوادونو د سوداګریزو او ترانزیټي اړیکو د پراخوالي او په دغه برخه کې د شته ستونزو د له منځه وړلو په موخه د مخکینیو توافقاتو په اړه خبرې وشوې.

دغه ناسته چې د دواړو هېوادونو په سرحدي ګمرکونو کې ترسره شوه د سوداګرۍ او ترانزیټ کچې د زیاتوالي په موخه دواړو لورو توافق وکړ، چې د اسلام کلا، نیمروز او ابو نصر فراهي او د ایران طرف ته د درېیو سرحدي ګمرکونو ترمنځ دې کاري وخت له ۸ ساعتونو څخه ۱۶ ساعتونو ته زیات شي. همدا راز د دواړو هېوادونو ترمنځ د صادراتو او وارداتو د زیاتوالي په موخه توافق وشو څو په ورځني ډول د بار وړونکو موټرونو شمېر له ۵۵۰ څخه ۱۲۰۰ ته لوړ شي. دې ناسته کې افغان خاورې ته د ایراني باروړونکو موټرونو شل ورځنی بندیز هم لرې کړل شو.

همدارنګه دواړو لورو د سوداګرۍ ودې په موخه ځینې ټاکل شوي فیسونه هم لغوه اعلان کړل. ایران ۱۰۴ ډالر او افغانستان بیا ۵۰۰۰ افغانۍ د خاک پولي فیس لغوه کړ.

د یادونې وړ ده چې د دې ناستو موخه څه موده وړاندې ایران ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د رسمي سفر پرمهال له ایراني چارواکو سره د شویو هوکړو تعقیب دی. ایران ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د رسمي سفر پرمهال د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ او ترانزیټ کچې د زیاتوالي په موخه یوشمېر تفاهمنامې لاسلیک شوې وې او د هغو د تعقیب لپاره د ګډو کمېټو پر ګومارلو هم هوکړه شوې وه.



# د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د خصوصي سکټور له استازو سره وکتل


محـــترم ملا عبدالغني بــرادر اخوند د روان لمریز کال د جدي میاشـــتې په دوهمـــه نېټه په خپل کاري دفتر کې د ترانسپورټ او هوایي چلند او صنعت او سوداګرۍ سرپرســـت وزیرانو، د مالیې وزارت او خصوصي ســـکټور له استازو سره وکتل.

په دغه لیدنه کې د بار وړونکو ترانسپورټي شرکتونو له لوري تر ټاکل شوې اندازې د زیاتې کرایې اخیســـتلو، د هېواد په ټولو ګمرکونو کې د بار وړونکو موټرونو د نوبت د تنظیم او همدارنګه د مالیې وزارت له لوري د ملي ســـوداګرو او صنعتکارانو د مالیاتي اسنادو د بررسۍ په اړه هراړخیز بحث وشو.

تر هراړخیز بحث وروســـته پرېکړه وشوه چې د اقتصادي معاونیت د استازي په مـــشرۍ دې د مالیـــې، صنعـــت او سوداګرۍ، ترانســـپورټ او هوایي چلند وزارتونـــو، د ســـوداګرۍ او پانګونـــې او همدارنګـــه د صنعت او معـــدن خونو له اســـتازو څخه جوړه شـــوې کمېټه د بار وړونکو ترانســـپورټي شرکتونو له لوري تر ټاکل شـــوې انـــدازې د زیاتـــې کرایې اخیســـتلو او د نوبت په اړه د شـــته ټولو ســـتونزو د ارزونې په موخه د هېواد لویو ګمرکونو ته سفر وکړي او خپل راپور دې د اقتصـــادي معاونیت له مقام سره شریک کړي. همدارنګـــه پرېکړه وشـــوه څو د ترانســـپورټ او هوایي چلنـــد وزارت په مشرۍ د بار وړونکو ترانسپورټي شرکتونو لپـــاره د کرایـــې ټاکلـــو کمېټـــې ته د سوداګرۍ او پانګونې خونې استازی هم د دایمي غړي په توګه ور زیات کړل شي.

پـــه غونډه کې تر مفصل بحث وروســـته پرېکړه وشوه چې د ترانسپورټ او هوایي چلند وزارت مکلف دی څو د افغانستان اســـلامي امارت د مشرتابه د هدایت پر اساس په ټولو ګمرکونو کې د بار وړونکو موټرونو لپاره د نوبت په موخه جوړ شوی طرزالعمل په جدیت سره په دوامدار ډول تطبیق کړي.

د غونډې په پای کې پرېکړه وشوه چې د مالیې وزارت له لوري د ملي سوداګرو او صنعتکارانو د مالیاتي اسنادو د بررسۍ کمېټـــه کې دې د اقتصـــادي معاونیت استازی هم د غړي په توګه ګډون وکړي او کمېټـــه دې خپل راپـــور د اقتصادي معاونیت له مقام سره شریک کړي.



د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال

# د ارزګان ولایت له علماوو او قومي مشرانو سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان لمریز کال د جدي میاشتې په ۱٦ مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د ارزګان ولایت له علماوو او قومي مشرانو سره په لیدنه کې د هغوی ستونزې واورېدې.

د ارزګان ولایت علماوو او قومي مشرانو په هېواد کې د راغلي امنیت ستاینه وکړه او زیاته یې کړه چې د ارزګان ولس په خپل ټول توان سره په هر حالت کې د افغانستان اسلامي امارت څخه اطاعت او ملاتړ کوي. د ارزګان ولایت استازو له مرکز ترینکوټ څخه ولسوالیو ته د غځېدلو سړکونو د بیارغولو، د څښاک پاکو اوبو چمتو کولو او همدارنګه د چک ډیمونو جوړولو ترڅنګ ځینې نورې ستونزې د ریاست الوزراء له اقتصادي مرستیال سره شریکې کړې.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د شل کلن اشغال د ختم او د اسلامي نظام راتللو لپاره د ارزګان ولایت د اوسېدونکو او مجاهدینو قربانۍ بې ساري وبللې او زیاته یې کړه، د الله تعالی په نصرت سره اوسمهال په افغانستان کې یو خپلواک اسلامي نظام حاکم دی، چې ټول افغانان یې تر حاکمیت لاندې په ارامۍ سره ژوند کوي.

محترم ملا صاحب وویل، اوسمهال په هېواد کې په بېلابېلو برخو کې د بیارغونې او ابادۍ کارونه پیل شوي او د پخوا په پرتله هېوادوالو ته د ژوند ډېرې اسانتیاوې برابرې شوې دي. د محترم ملا صاحب په خبره، اسلامي امارت ته ډېرې ستونزې په میراث پاتې دي، چې د ټولو حل کول وخت او امکاناتو ته اړتیا لري او اسلامي امارت له خپل ولس سره ژمنه کوي، چې د دوی لومړیتوبونو ته په کتو سره به په تدریج سره ټولې ستونزې حل کړي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د ارزګان ولایت علماوو او قومي مخورو ته ډاډ ورکړ، چې له مرکز ترینکوټ څخه ولسوالیو ته د غځېدلو سړکونو، د څښاک پاکو اوبو او همدارنګه د چک ډیمونو جوړولو په برخه کې به خپلو امکاناتو ته په کتو اقدام وکړي.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند

# معاون اقتصادی ریاست الوزراء به ننگرهار سفر نمود

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء به تاریخ ۲۶ ام جدی سال روان خورشیدی به ولایت ننگرهار سفر نمود و در آن جا ضمن دیدار با علماء، متنفذین، تاجران و مسوولین ولایتی از شفاخانه ۱۰۰۰ بستر نیز بازدید به عمل آورد.

محترم ملا صاحب حین دیدار با علماء، متنفذین، تاجران و مسوولین ولایتی گفت، به هدف پیشرفت و صنعتی شدن افغانستان تمامی تلاش شان این بوده تا برق مورد نیاز را در داخل کشور تولید نمایند، تا به این وسیله راه برای توسعه کشور هموار گردد. محترم ملا صاحب افزود، به منظور افزایش سطح تجارت و ترانزیت پروژه اعمار سرک دوم شاهراه کابل - جلال آباد را در اولویت های کاری خویش قرار داده است، که وزیر محترم فواید عامه در آینده نزدیک با عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله موضوع را شریک و منظوری آن را اخذ خواهد کرد.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء گفت، که امارت اسلامی در یک هماهنگی خوب با ارگان های ذیربط خویش و تاجران ملی به مشکلات شهروندان عودت کننده به وجه احسن رسیده‌گی نموده است. محترم ملا صاحب از همه مهاجرین افغان مقیم خارج خواست تا به کشور شان برگردند، امارت اسلامی از آنها استقبال می کند و تا حد توان از ایشان حمایت می نماید.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء به مردم ننگرهار اطمینان داد، که امارت اسلامی با مساعد شدن امکانات به تدریج به مشکلات و خواسته های شان رسیده‌گی خواهد کرد. همچنان محترم ملا صاحب حین سفر خویش به ولایت ننگرهار از شفاخانه ۱۰۰۰ بستر در شهر جلال آباد نیز دیدن نمود. محترم ملا صاحب هنگام بازدید از شفاخانه مذکور گفت، که وی به ارگان های ذیربط هدایت خواهد داد تا کار باقیماندهٔ این شفاخانه را به وقت معینه تکمیل و به بهره برداری بسپارند.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء شام روز چهارشنبه مورخ ۲۷ ام جدی سال روان به کابل برگشتند.





محترم ملا عبدالغني برادر اخوند:

# د امارتي شرکتونو د تقویې او انسجام په موخه

## د خپلواکې اداري رامنځته کېدل به د صنعت سکټور لا پیاوړی کړي

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د امارتي شرکتونو د ښه مدیریت، ملي عوایدو لوړېدو، د انحصار او احتکار د مخنیوي په موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله له فرمان سره سم د خپلواکې اداري رامنځته کېدو په پار د روان لمریز کال د سلواغې میاشتې په لومړۍ نېټه جوړه شوې غونډه کې ګډون وکړ.

په غونډه کې چې د اسلامي امارت د کابینې د یوشمېر غړو او د امارتي شرکتونو د مسوولینو په ګډون جوړه شوې وه، د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د خپلو خبرو پرمهال د یادې اداري جوړېدل مهم وبلل او ویې ویل، په افغانستان کې د دولتي تصدیو او شرکتونو فعالیتونه زیات اغېزناک و. د تېرې قمري پېړۍ تر وروستۍ لسیزې پورې دولتي تصدیو او شرکتونو تر ۶۰ سلنې پورې ملي بودیجه برابروله او خدمات یې تر خصوصي سکټور لوړ وو. محترم ملا صاحب زیاته کړه: «آن هغه خدمات چې خصوصي سکټور به یې په ترسره کولو کې پاتې راغی، دولتي تصدیو او شرکتونو به په پوره مسلکیتوب او قوت سره ترسره کول.»

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، له بده مرغه له هغه وروسته د افغانستان د نورو برخو تر څنګ دولتي شرکتونو او تصدیو ته هم ډېر زیان ورسېد. په تېرو څلوېښتو کلونو کې یادو شرکتونو ته چا سر هم ور ښکاره نه کړ.

محترم ملا صاحب د اسلامي امارت له لوري د ډېرې دولتي شرکتونو بېرته فعالیدو ته په اشارې سره وویل، د اسلامي امارت په راتګ او د مالیې وزارت په هڅو سره ډېر شرکتونه بېرته فعال او په عوایدو کې یې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی. د محترم ملا صاحب په وینا، په تېر کې د شرکتونو د ناوړه حالت یو عمده لامل د فاسدو اشخاصو له لوري ددې شرکتونو ناسم مدیریت و، په داسې حال کې چې په ټوله نړۍ کې دولتي او غیر دولتي شرکتونه د ځانګړو کمېټو او بورډونو له لوري رهبري کېږي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د دولتي شرکتونو د خپلواکې اداري رامنځته کول همدې موخې ته رسېدل وبلل او زیاته یې کړه چې د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله د فرمان پر بنسټ به اوس‌مهال ټول امارتي شرکتونه د یوې واحدې اداري تر چتر لاندې راشي چې چارې به یې مثبتې او ښې پرمخ ولاړې شي. د یادونې وړ ده چې دغه اداره د امارتي شرکتونو ترمنځ د لا ښې همغږۍ، د چارو د ښه مدیریت او د انحصار او احتکار د له منځه وړلو په خاطر د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله د ۲۱مې ګڼې فرمان پر بنسټ رامنځته شوې ده. د غونډې د ګډونوالو په وینا چې دغه اداره به د هېواد په اقتصادي پرمختګ کې ګټوره تمامه شي او ورسره به د ملي عوایدو کچه لوړه شي.

# خبري راپورونه او
# اعلامیې



# اسلامي امارت د انرژۍ سکټور ته په خپلــو لومړیتوبونو کې ځای ورکړی

د انرژۍ ســکټور په هېواد کې یو له تر ټولو لویو او مهمو سکټورونو څخه دی. اوس‌مهال افغانستــان د برېښــنا، ګاز او تېلـو واردونکـی هېـواد دی، پـه داسـې حـال کـې چـې د هېواد د انرژۍ اړوند طبیعـــي زېرمـې همداســـې ناکارول شوې پاتې دي.

د انرژۍ اهمیت ته په کتو دغه سکټور د افغانستان اسلامي امارت په لومړیتوبونو کې دی او موخه یې په دې برخه کې پر ځان بسیاینه ده، اوس‌مهال افغانستان د اړتیا وړ برېښنا، ګاز او تېل له ګاونډیو او سیمې هېوادونو څخه واردوي.

د انرژۍ په سکټور کې د ځان بسیاینې نشــتوالی زمــوږ د هېــواد د اقتصادي پرمختګ پر وړاندې ننګونه ده، له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت په دې برخه کې کوټلي ګامونه اخیســتي دي، چې د کجکي بند د دوهم فاز پرانیسته، د بخش آباد او کمال خان بند د پاتې چارو بشــپړېدل، په مختلفــو ولایتونو کې د لمریزې او بادي برېښنا پروژو پرانیستې یې ښې بېلګې دي.

د آمو نفتي حوزې څخه د تېلو استخراج پیل بل هغه ګام دی چې اسلامي امارت پــه دې ســکټور کې پورته کــړی دی.

اســلامي امارت په هېواد کې د شــته طبیعي ګازو له زېرمو څخه د استخراج په برخه کې خپلې هلې ځلې ګړندۍ کړې دي او هڅه یې داده چې له دې پلوه هم هېواد پر ځان بسیاینې ته ورسوي.

همدارنګه د افغانستان اسلامي امارت د انرژۍ ســکټور په برخه کې د کورنیو او بهرنیــو پانګوالو د جلــب او جذب او د پانګونې لپاره د اسانتیاوو برابرولو په تړاو جــدي هڅې پیل کړې دي، چې ښــه بېلګــه یــې د کابل ولایــت په سروبي ولسوالۍ کې د کورني او بهرني شرکت له لوري په ترتیب سره د ۱۰ مېګاواټه او ۲۲ مېګاواټــه لمریزې برېښـــنا د تولید پروژې دي.

د انرژۍ په سکټور کې په پانګونې سره به له یوې خوا هېواد په کور دننه د انرژۍ له سرچینو څخه په استفادې ځان بسیاینې ته ورســیږي او له بل لوري به د وارداتي انــرژۍ په برخه کې مــصرف کېدونکې پیسې هم سپما شي.





# با حاکمیت امارت اسلامی ۱۳ شرکت دولتی از کار افتاده
# دوباره به فعالیت آغاز نموده است

با رویکار آمدن امارت اسلامی بیشتر آن عــده از شرکت هــای دولتی کــه قبلاً فعالیت های آن ها متوقف بود دوباره به فعالیت آغاز نموده است. امارت اسلامی شرکت های یاد شده را به شکل اساسی بازسازی و تمامی مشکلات آن را بر طرف نموده که سد راه فعالیت آنها بود.

امــارت اســلامی در جریان دو ســال گذشته، ۱۳ شرکت را دوباره فعال نموده که فعالیت هــای آنها کاملاً متوقف بود.

این شرکت های دولتی عبارتند از: پنبه و روغن نباتی بســت هلمند، نفت و گاز ، پنبه و روغن نباتی بلخ، کندز سپین زر، ملی بس، افغان کارت، سیلوی مرکزی، سیلوی بلخ، انکشــاف صنایع دستی، نساجی پلخمری، نساجی پشمی کندهار، ارزاق و افغان طیور که از سوی امارت اسلامی دوباره فعال و به تولید آغاز نموده اند.

اکنون این شرکت ها، روغن، پنبه، رخت، صابون، دســتمال کاغــذی، یونیفورم نظامی، صنایع دســتی و انواع مختلف مواد خوراکی تولید می نمایند و علاوه بر این در بخش ترانسپورت و سایر بخش‌ها بــرای شــهروندان عزیز مــا خدمات با کیفیت را عرضه می دارند.

از اوایل سال ۱۴۰۲ خورشیدی تا اکنون در حدود ۹ میلیارد افغانی عواید از طریق شرکت های دولتی به دست آمده است.

با فعال شــدن این شرکت های دولتی برای ۳۸ هزار تن به صورت مستقیم و ۱۰ هزار نفر به شکل غیر مستقیم زمینهٔ کار فراهم گردیده شده است.

به منظور مدیریت سالم، افزایش عواید، جلوگیری از انحصار و احتکار و فعالیت مؤثر شرکت های امارتی بر اساس فرمان شماره ۲۱ ام عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب اداره مستقل تنظیم شرکت های امارتی ایجاد و به فعالیت آغاز کرد.

محترم مــلا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء در همایشی که پیرامون ایجاد اداره مستقل شرکت های امارتــی به هدف تقویت و انســجام این شرکــت ها تدویــر گردیده بــود، حین ســخنان خود ایجاد ایــن اداره را مهم خوانده گفت که با آن صنعت بیشــتر از این تقویت خواهد شد.

# اقتصادي کمېسیون د هېواد په ۱۲ ګمرکي بندرونو کې
# د ۲٤ لويو الکترونيکي سکنرونو د لګولو طرحه
# منظوره کړه

**د قرارداد موده:**
۱۳ کاله

**د پروژې تطبیق موده:**
۲ کاله

**د پانګونې اندازه:**
شاوخوا ۸ میلیارده ؋

**تطبیق کوونکی:**
د افغانستان اسلامي امارت
او خصوصي سکټور

**موقعیت:**
د هېواد ګمرکي بندرونه

**کاري فرصتونه:**
۲۰۰۰ کسان

**د پانګونې ډول:**
عامه - خصوصي مشارکت

## ګټې:

1. په ګمرکونو کې د معیاري خدمتونو وړاندې کول؛
2. د فساد مخنیوی؛
3. د ګمرکي عوایدو په راټولولو کې شفافیت، سرعت او دقت؛
4. په ګمرکي پروسو کې روڼتیا، چټکتیا او مؤثریت؛
5. د ممنوعه شیانو د قاچاق مخنیوی؛
6. او د ګمرکي عوایدو زیاتوالی.





## ۲ اعلامیۀ معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء ا.ا.ا در پیوند به گزارش اخیر بانک جهانی پیرامون وضعیت اقتصادی افغانستان

در ارتباط به وضعیت اقتصادی افغانستان گزارشی در ۳۱ ام جنوری ۲۰۲٤ میلادی از سوی بانک جهانی منتشر گردیده است. در این گزارش به پیشرفت های انجام شده در عرصۀ وضعیت اقتصادی افغانستان اشاره گردیده است.

در گزارش آمده است که صادرات افغانستان نسبت به سال ۲۰۲۲ در سال ۲۰۲۳ میلادی افزایش یافته، همچنان در مقایسه به سال ۲۰۲۲ در سال ۲۰۲۳ ارزش پول افغانی در برابر اسعار خارجی افزایش قابل ملاحظه به عمل آمده، در قیمت مواد خوراکی و غیر خوراکی کاهش به وجود آمده، سطح عواید ملی نسبت به سال ۲۰۲۲ در سال ۲۰۲۳ میلادی ازدیاد یافته و ضمن همه این پیشرفت ها میزان واردات نیز افزایش یافته و از این معلوم می شود که سطح توان خرید مردم بلند رفته است.

معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان، بخش‌های مثبت و مبتنی بر واقعیت های عینی این گزارش را ستایش و بخش‌هایی را که به دور از واقعیت است، رد می کند. معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء از نهادهای بین المللی مانند بانک جهانی می خواهد که در مورد افغانستان واقعیت های عینی را در گزارش های خود منعکس کنند.

امارت اسلامی افغانستان بر این باور است که اگر جامعه جهانی به تعامل مثبت رو آورد، تحریم ها را دور سازد و سرمایه منجمد شده مردم افغانستان را آزاد سازد، افغانستان در پهلوی سایر بخش ها در عرصه اقتصادی پیشرفت قابل ملاحظه‌ای خواهد نمود.

امارت اسلامی افغانستان بر این باور است که اگر سازمان های بین المللی و نهادهای کمک رسان به جای تضاد، تعامل مثبت را اختیار نمایند و در تمویل پروژه های انکشافی با افغانستان همکاری کنند، در نتیجه فرصت های شغلی جدید ایجاد و روی وضعیت اقتصادی کشور اثر مثبت خواهد گذاشت.

### با سعی و تلاش امارت اسلامی

## برخی از شرکت های هوایی پروازهای خویش را آغاز نمودند

با تلاش های پیگیرانه امارت اسلامی شماری از شرکت های هوایی بین المللی در جریان سال روان خورشیدی افزون بر پایتخت کشور در برخی دیگری از ولایات کشور پروازهای خود را آغاز کردند.

امارت اسلامی افغانستان، ترانسپورت هوایی را در صدر برنامه های کاری خود قرارداده است. عرضه خدمات ترانسپورتی هوایی مصئون و معیاری، تقویت روابط ترانسپورتی هوایی با کشورهای همسایه و منطقه، فراهم نمودن زمینه سرمایه گذاری در بخش سکتور ترانسپورتی هوایی، انکشاف زیربناهای ترانسپورتی، اصلاح ساختار اداری و مساعد نمودن زمینه اصلاحات بنیادی در این سکتور، در اولویت های کاری آن جا دارد.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند طی سفرهای خویش به کشورهای امارات متحده عربی، ایران و ترکیه در کنار موضوعات دوجانبه اقتصادی پیرامون شروع پروازهای شرکت های هوایی کشورهای یاد شده با مسوولین مربوطه آن بحث ها داشتند که خوشبختانه به سلسله این تلاش ها شرکت های هوایی فلای دوبی، ایرالعربیه و یزد پروازهای خود را به افغانستان آغاز نمودند.

قرار است برخی از شرکت های دیگر بین المللی نیز پروازهای خویش را در آینده نزدیک به افغانستان آغاز نمایند. اکنون فضای افغانستان برای پروازهای ملکی کاملاً مصئون است، بنا بر همین دلیل در شمار پروازهای عبوری از فضای افغانستان افزایش به عمل آمده است.

قابل یاد آوریست که با آغاز پروازهای این شرکت ها برای مسافرین تسهیلات زیادی فراهم گردیده، در قیمت تکت ها کاهش به عمل آمده و زمینه رقابت سالم میان شرکت های هوایی جهت عرضه خدمات بهتر فراهم شده است.



# به ارزش حدود دو میلیارد افغانی قرارداد سه پروژه

## میان وزارت ترانسپورت و هوانوردی و سکتور خصوصی به امضاء رسید

در حضور داشــت محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء به تاریخ یازدهم دلو ســال روان به ارزش حدود دو میلیارد افغانی قرارداد سه پروژه میــان وزارت ترانســپورت و هوانوردی و سکتور خصوصی به امضاء رسید.

در این مراسم که در مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت برگزار گردیده بود، محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاســت الوزراء، این پروژه ها را در احیای ترانســپورت معیاری و توسعه این سکتور مهم خواند و از شرکت های قراردادی خواست تا کارهای خویش را با کیفیت و به وقت تعیین شده به پایان برسانند.

این پروژه ها اعمار پارکینگ و انتظارخانه در میدان هوایی کابــل، تیرپارک بندر آقینه در ولایت فاریاب و ترمینل گذره در ولایت هــرات می باشــد کــه هزینه مجموعی آن در حدود ۲ میلیارد افغانی اســت. با اجرای این پروژه ها از یک سو خدمــات حمــل و نقــل معیــاری به هموطنان ارائه می شود و از سوی دیگر به هزاران نفر به صورت مســتقیم و غیر مستقیم زمینه کار فراهم خواهند شد.



# اسلامي امارت ته
# د صنعت سکټور او کورنيو توليداتو ملاتړ
# لومړيتوب لري

اسلامي امارت د کورنيو توليداتو د ودې او د دولت د عوايدو د لوړېدو په موخه پر هغو وارداتي اقلامو گمرکي تعرفه لوړه کړې چې هغه په کور دننه توليد او د خلکو اړتياوې پوره کولی شي.

په همدې موخه د اسلامي امارت د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت په مشرۍ د سکټوري وزارتونو او خصوصي سکټور په غړيتوب له صنعت او صنعتکارانو څخه د ملاتړ په موخه په جوړو شوو ناستو کې مهمې پرېکړې شوې دي.

د دغو پرېکړو له مخې به ټولې امارتي ادارې د کورنيو توليداتو او محصولاتو د ملاتړ په موخه په خپلو خريداريو او تدارکاتي پروسو کې کورنيو توليداتو او محصولاتو ته لومړيتوب ورکوي، که څه هم کيفيت يې د بهرنيو توليداتو او محصولاتو په پرتله له لس تر پنځلس سلنې ټيټ وي.

په دغو ناستو کې امارتي ادارې مکلفې بلل شوي دي، څو د ټولو کورنيو توليداتو او محصولاتو لېستونه له ځان سره ولري او د هغو له مخې دې د خپلې اړتيا وړ توکو نرخونه اخلي.

اسلامي امارت له دې سره هم مهاله په لسگونو قلمه هغو وارداتي توکو تعرفه لوړ کړې ده چې هغه په کور دننه توليدېږي او د خلکو اړتياوې پوره کولای شي.

دغه راز اسلامي امارت د کورنيو توليداتو د ملاتړ په موخه په کور دننه او له هېواد څخه بهر نندارتونونه هم جوړ کړي. چې ښه بېلگه يې په کور دننه د کابل نړېوال نندارتون، امام ابوحنيفه لومړی او دوهم نړيوال نندارتون او له هېواد څخه بهر په قزاقستان، چين، قطر او يوشمېر نورو هېوادونو کې د نندارتونونو جوړول دي.

له دې اقداماتو څخه د اسلامي امارت يوازينۍ موخه د صنعت پرمختگ او د کورنيو توليداتو وده ده. له دې سره به له يوه لوري د هېواد صنعت وغوړېږي او له بل لوري به د ملي عوايدو په کچه کې زياتوالی راشي.










# د اقتصادي موضوعاتو اړوند

# مقالي



# د بدیلو سوداګریزو لارو

## اقتصادي ارزښت ته کتنه

**لیکوال:** فضل ولي شیراني

په دې لیکنه کې هغو بدیلو سوداګریزو او ترانزیټي لارو ته اشاره شوې، چې د افغانستان د سوداګرۍ او ترانزیټ کچې زیاتېدو لپاره مناسبې او اقتصادي ارزښت یې لوړ دی.



# سریزه

د هېـــواد د پرمختګ له پـــاره د ترانزیټ زیربنـــاوو لکه، لویو لارو، ســـړکونو، رېل پټلۍ، هوایي دهلیزونو او هوایي ډګرونو ته زیاته اړتیـــا ده. د پورتـــه ترانزیټي او مواصلاتي زیربناوو له رغونې او جوړونې پرته د یوه هېواد پرمختګ او ترقي امکان نه لـــري. همدارنګه، داســـې زیربناوې رامنځته کول په هېواد کې ثبات، زیاتې پانګونې، کارپوهانو، مدیرانو، ښې دولتي پلانګذارۍ او نورو ته اړتیا لري. که په یوه هېواد کې دا کارونه ســـم مدیریت او سم پرمـــخ ولاړ شي؛ نـــو د هغه هېـــواد په اقتصـــادي وده کـــې زیـــات رول لري. همدارنګه د ترانزیټ ترڅنګ یوه بله مهمه مســـله شـــته چې هغه زمـــوږ د هېواد ستراتژیک موقعیت دی. دا مسله هم باید له پامه ونه غورځـــول شي. که موږ غواړو چې هېواد مـــو پرمختګ وکړي؛ نو اړ یوو چې د هېواد له ستراتیژیک موقعیت څخه په ګټې اخیستنې سره دا ځای د سویلې او منځنـــۍ اســـیا او هـــم د ختیځې او لویدیځې اســـیا په څلورلارې بدل کړو. دلته باید پوه شـــو چې کـــوم ځیزونه یو هېواد ته دا موقـــع برابروي چې له خپل ســـتراتیژیک موقعیت څخه ســـمه ګټه واخلي او نشتون یې هغه هېواد له خپلو روا ګټو محروموي. افغانستان په وچه کې راګېر هېواد دی چې د سوداګرېزو اړیکو او نړیـــوال مارکېټ ته د لاسرسي لپاره په ګاونډیو هېوادونـــو باندې تکیه دی او تر دې مهاله خپل صادرات او واردات پرته له ټاکلـــې لارې په نورو لارو تـــرسره کوي. ددې لامل په هېواد کې لسیزې ناخوالې وې، چې هېواد یې په یو یا دوو هېوادونو متکـــي ســـاتلی و. خـــو اوس چـــې په افغانســـتان کې د اسلامي امارت تر چتر لاندې یو خپلواک نظام رامنځته شـــوی دی، هڅه یې داده چې افغانستان له دې حالت څخه وباسي او د سوداګرۍ له پاره بدیلې لارې پیدا کړي. موږ غواړو په دې لیکنـــه کې هغـــو بدیلو ســـوداګریزو او ترانزیټي لارو ته اشـــاره وکړو چې ددې برخو له پاره مناسبې او اقتصادي ارزښت یې لوړ دی.



## بدیلې سوداګریزې لارې


پە تېر کې د هېوادونو ترمنځ د اړیکو رامنځته کولو او د هغوی ټینګښت او پایښت تر ډېره بریده د سوداګریزو لارو جوړولو او هغو ته د ودې ورکولو تر اغېزې لاندې و، ځکه په هغه وخت کې د سوداګریزو توکو د لېږد له پاره ځمکنۍ لارې جوړېدې. دغه لارې به خوندي وې. خو د وخت په تېرېدو او په نړۍ کې د پرمختګونو په رامنځته کېدو سره په دې برخه کې ژور بدلونونه رامنځته شول. د ځمکنیو لارو ترڅنګ، سمندري، هوایي لارې او رېل پټلۍ رامنځته شول. له دې سره له یوه لوري په سوداګرۍ کې پراختیا او له بل لوري د سوداګریزو توکو په لېږد کې چټکتیا رامنځته شوه. اوسمهال د هر هېواد هڅه داده چې له دې ټولو لارو ګټه پورته او خپله سوداګري نړیوالې او د صادراتو کچه لوړه کړي. په دې سره بیا د هېوادونو پرمختګ تضمینېږي. دغه راز ددې لارو په پراختیا سره هېوادونه په دې لټه کې دي چې ځان پر یوه یا دوه هېوادونو له متکي کېدو خلاص کړي. نو ددې له پاره باید ټولې هغه لارې پیدا کړي چې کولای شي له دې لانجې ځان وژغوري. افغانستان ته هم په کار ده چې د خپلې سوداګرۍ د پراختیا له پاره بدیلې لارې پیدا کړي او پر یوه یا دوو هېوادونو د متکي کېدو موضوع ته پای ورکړي. که چېرې موږ وتوانېږو چې د سوداګرۍ له پاره بدیلې لارې پیدا کړو، له دې سره به مو سوداګري پراختیا ومومي او اقتصاد به مو پیاوړی شي. له بل لوري به د افغانستان ستراتیژیک موقعیت ته په کتو موږ وکولای شو د اسیا په څلورلارې بدل شو، خو په هغه صورت کې چې لاندې لارې ورغول شي او ګټه ترې پورته شي. په دې لارو کې ځمکنۍ لارې، هوایي دهلیزونه او رېل پټلۍ راځي.

## ځمکنۍ لویې لارې

لارې او سړکونه د بشري ټولنو تر منځ د پیوستون وسیله ده. لویو لارو هم په سوداګرۍ کې خپل اغېز ثابت کړی او هم یې د لرغونو زمانو راهیسې د تمدونونو او تهذیبونو د پېژندلو په برخه کې مهم رول لوبولی دی. دا چې افغانستان ته د اسیا زړه او تمدن څلور لارې ویل شوې ده، برکت یې له افغانستان څخه د مهمو او لرغونو لارو تېربدل دي. په دې لارو کې لومړۍ د ورېښمو لویه لار ده.



## ١ د ورېښمو لویه لار




د ورېښمو لار شاوخوا ۱۱٤ کاله له میلاد څخه وړاندې د سوداګرۍ له پاره د یوې ډاډمنې لارې په توګه جوړه شوه، دغه لار ختیځه، لویدیځه او سویلي اسیا، د افریقا شمال له ختیځې اروپا سره نښلوي. دغه لار ۱۷۰۰ کاله د بېلابېلو هېوادونو د سوداګرۍ یوه مهمه لار وه او تر ۱٤۵۰ میلادي کال پورې ترې ګټه پورته کېده. دا لاره چې د هند او چین څخه پیلېده او بیا له افغانستان څخه تېرېده او تر روم پورې رسېده، د اسیا او اروپا او افریقا لویې وچې یې یو له بل سره نښلولې. د ورېښمو لار ٤۰۰۰ میله یا ٦۵۰۰ کیلومتره اوږدوالی لري. په ۲۰۱۳ز کال کې «شي جینپینګ» داسې مهال د چین ولسمشر شو چې د دې هېواد اقتصادي وده مخ پر ځوږ روانه وه. له دغه وضعیت څخه د چین د ایستلو لپاره شي جینپینګ له ځان سره د لویو اقتصادي پروژو طرحې درلودې او د عملي کولو لپاره یې مهم ګامونه پورته کړل. په دې پروژو کې یوه هم د ورېښمو لارې د بیا احیا یا بیا جوړونې طرحه وه. د دې طرحې پر بنسټ د ورېښمو نوې لار دوه مسیره لري، چې یو یې د اوبو او بل یې د وچې دی.د ورېښمو د نوې لارې د طرحې پر بنسټ په وچه کې د دې لارې مسیر له چین څخه پیلېږي، له منځنۍ اسیا او ایران څخه په تېرېدو منځني ختیځ او اروپا ته رسیږي. دا پروژه چې یو بشپړ او هر اړخیز پروګرام دی، موخه یې د ورېښمو د لرغونې لارې بیا را ژوندي کول او په دې پروژه کې ټول هغه هېوادونه چې د یادې لارې په اوږدو کې پراته دي، دخیلول دي.

چین غواړي چې له دې لارې د اسیایي او اروپایي هېوادونو نویو بازارونو ته ځان ورسوي. دغه لار کولای شي د افغانستان له لارې د منځنۍ اسیا هېوادونه له سویلي اسیا او ختیځه او لویدیځه اسیا له اروپا سره ونښلوي. د ورېښمو لرغونې لار چې اوس دیو کمربند او یوې لارې په نامه نومول شوې ځمکنۍ، هوایي او سمندري زېربناوې، د اوسپنې پټلۍ او د انرژۍ د لېږد شبکې په کې شاملې دي، د نړۍ ٦٤ هېوادونه او څلور نیم مېلیارده وګړي سره نښلوي. دا پروژه نه یوازې اقتصادي ګټې لري، بلکې فرهنګي او ټولنیزو اړیکو ته هم وده ورکوي. افغانستان چې د ورېښمو لرغونې لارې یو مهم غړی و، د نوې لارې په طرحه کې د ځایېدو په موخه یې په ۲۰۱٦ کال کې له چینایي لوري سره د «یو کمربند او یوه لار» پروژه کې نښلون هوکړه‌لیک لاسلیک کړ، چې پر اساس یې یو ځل بیا د دې تاریخي او مهمې سوداګریزې لارې د زنځیر کړۍ شو.د ورېښمو نوې لارې پروژه چې په سیمه کې د پراخ اقتصادي اتصال لپاره جوړه شوې ده، د افغانستان له پاره ځانګړې ارزښت لري او ددې اړتیا ده چې افغانستان په دې پروژه کې فعال ګډون ولري، څو په سیمه‌ییز او نړیوال اقتصادي بهیر، ترانزیټ او سوداګرۍ کې خپل تاریخي ارزښت بېرته را ژوندی کړي. دا راز یاده پروژه په وچه کې ایسار هېوادونه له سمندر سره

نښلولی شي. د دې هېوادونو له ډلې یو هم افغانستان دی چې په وچه کې ایسار دی؛ نو له دې امله اړینه ده چې په داسې سترو او نړیوالو پروژو کې شریک شي، څکه افغانستان کرنیز تولیدات، لاسي صنایع او کانونه لري او ددې د پلور له پاره هغو لارو ته اړتیا ده چې افغانستان وکولای شي د خپلې خوښې بازارونو ته لار پیدا کړي. د یو کمر بند او یوې لارې پروژه کې په ګډون سره به افغانستان ددې فرصت پیدا کړي چې پر اسیا سربېره اروپا ته هم لار ومومي او خپل محصولات په کم لګښت ددې هېوادونو تر بازارونو ورسوي.

## ٢ د لاجوردو لویه لار

څرنګه چې د لاجوردو لاره د وخت له مهمو او مواصلاتي لارو څخه شمېرل کېدله، په اصل کې دا لاره د ورېښمو د لارې یو مسیر او بیارغونه ده، چې لرغونتیا یې ٢٠٠٠کاله ته رسېږي. له دې لارې څخه به لاجورد او ځینې نورې قیمتي ډېرې اروپا، روسیې، بالکان، قفقاز او د افریقا شمال ته لېږدول کېدې. خو ځینې پوهان وایي، چې دې لارې ته څکه د لاجوردو لار وایي، چې د لاجوردو په شان یې د ډېر وخت په تېرېدلو سره خپل ارزښت ساتلی او لا زیات شوی، کله چې دا تاریخي سوداګریزه لاره ویجاړه شوه، نو افغانستان ته ډېری صادرات د پاکستان د کراچۍ بندر له لارې کېدل، چې نسبتاً اوږده او غیر مصئونه لاره بلل کېږي. د لاجوردو لار چې د کراچۍ له بندر پرته افغانستان له اروپا، منځني ختیځ، افریقا، بالکان او ترکیې سره نښلوي، د افغانستان سوداګرۍ لپاره تر ټولو لنډه، ډاډمنه، ارزانه او خوندي لار ده. دغه تجارتي لاره د فاریاب ولایت له آقینې بندر څخه او همدارنګه د هرات ولایت د تورغونډۍ له بندر څخه پیلېږي او د ترکمنستان هېواد د ترکمن باشي بندر پورې غځېږي. له هغه وروسته د خزر له بحیرې تېرېږي، د آذربایجان هېواد له باکو څخه په تېرېدو، د ګرجستان پلازمېنې تفلیس ته رسېږي او د تورې بحیرې د پوتي او باتومي بندرونو ته ځان رسوي. پر دې سربېره د قارص د بندر له لارې د ترکیې هېواد ته او د استانبول ښار نورو بندرونو ته په رسېدو له اروپا سره نښلي. ددې لارې اصلي شریکان افغانستان، ترکمنستان، آذربایجان او جورجیا هېوادونه دي، خو ترکیه هم غواړي چې په دې پروژه کې شریکه شي، ترکیه غواړي چې د ترکمنستان، آذربایجان، ګرجستان او جورجیا ترڅنګ ځان د منځنۍ اسیا نورو هېوادونو ته د لاجوردو له لارې ورسوي او هم د افغانستان له لارې له سویلي آسیا سره ځان ونښلوي، څکه ترکیې پر دې سربېره د تورې بحیرې له لارې ځان له نورو اروپایي هېوادونو سره هم نښلولی دی، نو له دې امله یاده پروژه کې غواړي ځان شریک کړي، تر څو خپل تجارت ته لا وسعت او پراختیا ورکړي. افغانستان هم کولای شي له دې لارې لومړی له بحر سره ونښلي او بیا کولای شي له دې لارې خپله سوداګري پراخه او اقتصادي وده ګړندۍ کړي.





## ۳ واخان د هلیز

د واخان دهلېز په افغانستان کې يوه تنګه دره ده چې د چين سينکيانګ سيمې ته غځيدلې ده او د تاجکستان د ګورنو-بدخشان سيمه د پاکستان تر کنټرول لاندې کشمير له ګلګت بلتستان سيمې څخه جلا کوي. له دې لوړې غرنۍ درې څخه د پنج او پامير سيندونه راوتلي او د امو سيند جوړوي. د دې درې اوږدوالی شاوخوا ۳۵۰ کيلومتره او پلنوالی يې له ۱۳ څخه تر ٦۵ کيلومترو پورې رسېږي. د واخان دهلېز په ۱۹مه پېړۍ کې د انګريزانو او روسانو ترمنځ د سيالۍ او رقابت په پايله کې رامنځته شو او د دواړو امپراتوريو ترمنځ د بفر زون په توګه پېژندل کېده. که څه هم واخان ته د تګ او راتګ لاره ويجاړه ده، خو د تاريخ په اوږدو کې د ختيځې، سويلي او مرکزي آسيا هېوادونو د وګړو له خوا د سوداګريزې لارې په توګه کارول کېده. د سوداګرۍ او سيمه‌ييز اتصال له پلوه دغه دهلېز د سيمې او منطقې د هېوادونو لپاره ځانګړې اهميت لري. د واخان دهلېز د کراکورم (Karakoram) د لويې لارې له جوړېدو وروسته او د چين – پاکستان اقتصادي دهليز(China – Pakistan Economic Corridor or CPEC) په پرانيستلو سره د نړۍ د مختلفو لوبغاړو د لوبې د يوې نوې سترې لوبې مرکز ګرځېدلی دی. د کراکورم لويه لاره افريقا او منځنې ختيځ ته د چين نوې لاره وه او په ۸۰مه لسيزه کې دغه لويه لاره د جنوبي اسيا لپاره د چين د کړکۍ په نوم يادېده. چين پلان لري د وربښمو د پخوانۍ لارې ترڅنګ يوه بله لاره د واخجير لارې (Wakhjir) په نامه چې افغانستان او د منځنۍ اسيا هېوادونه سره نښلوي، جوړه کړي. د واخان دهليز دغه سړک به افغانستان او د منځنۍ اسيا هېوادونه د کراکورم د لويې لارې او کاشغر سره ونښلوي. په نننۍ نړۍ کې د هېوادونو اصلي ځواک د اقتصاد له لارې ټاکل کېږي او سيمه ييز اتصال د اقتصادي ودې تر ټولو مهم رکن ګڼل کېږي. اسلامي امارت دې ټکي ته په پاملرنې سره هڅه پيل کړې ده چې دغه مهم دهلېز جوړ او خپله سوداګري پراخه کړي. اسلامي امارت د روان کال په لړ کې د واخان سړک جوړولو چارې پيل کړې دي. د اسلامي امارت وياند ذبيح الله مجاهد په دې اړه وويل چې له نړۍ په ځانګړي ډول چين هېواد سره يې د اقتصادي اړيکو د پراختيا په موخه ددغه سړک چارې پيل کړې دي او په چټکۍ سره روانې دي. نوموړي زياته کړه چې د اسلامي امارت محترم مشرتابه د هېواد د اقتصادي اړيکو پراختيا په برخه کې مهم ګامونه پورته کړي دي او هڅه کوي بېلا بېلې ترانزيټي لارې رامنځته کړي. دغه راز د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په کندهار کې يوې غونډې ته وويل چې اسلامي امارت د بدخشان په واخان کې له چين سره د وصلېدو لپاره د سړک جوړولو چارې پيل کړې دي. دا په دې مانا ده چې اسلامي امارت د واخان مهم دهلېز جوړولو ته ژمن دی او هڅه کوي چې دغه مهمه لار پرانيزي او سوداګري پراخه کړي.

## ۴ چابهار بندر

هر هېواد د خپلو خلکو د ژوند د ښه سمون لپاره هلې ځلې کوي؛ افغانستان هم حق لري چې له اوږدې مودې جګړې وروسته یوه هوسا ټولنه ولري او خپلې طبیعي سرچینې، اقتصادي امکانات، موقعیت او هغه پوټانشیل چې لري یې د خپلو خلکو په ګټه وکاروي. په دې لړ کې یوه لاره داده چې د افغانستان د جیوپولیټیک او جیو اکونومیک موقعیت څخه ښه استفاده وشي او له انزوا څخه ووځي. دې موخې ته د رسېدو له پاره باید د منطقوي سازمانونو، منطقوي اقتصاد، نړیوالو اوبو ته د لار موندنې، په بهرني تجارت کې د کسر د له منځه وړلو او له راز راز سیاسي فشارونو د خلاصون لپاره لارې ولټول شي. په دې کې یو هم د تجارت او اقتصادي راکړې ورکړې لپاره د امکاناتو لټول دي. په دې امکاناتو کې یو هم د چابهار بندر دی. دغه بندر دایران په سیستان او بلوچستان ایالت کې موقعیت لري او د عربو سمندر له لارې له هند سره نښلي. دغه لار د پاکستان کراچۍ بندر په نسبت ۷۰۰ کیلومتره او د عباس بندر په نسبت ۹۰ کیلومتره لنډه ده، چابهار بندر د کراچۍ بندر په پرتله د افغان سوداګرو له پاره ډاډمنه او بې خطره لار ده او له دې لارې صادرات به د افغان سوداګرو له پاره له یوې خوا اسانه او له بلې خوا به ارزانه وي. ایران له دغه بندر څخه د افغانستان تر سرحد پورې د ۲۰۰ کیلومترو په واټن د زرمبلک په نوم د اوسپنې پټلۍ غځوي، چې له هغې لارې به سوداګریز توکي د نیمروز تر زرنج پورې رارسېږي او بیا به د فراه ولایت د دلارام له لارې نورو سیمو ته انتقالیږي. له دلارام څخه دغه لویه لاره هرات ته او بیا د تورغونډۍ له طریقه له هېواده بهر مرکزي آسیا او آن اروپا ته رسېږي. په دې ترتیب سره به سویلي آسیا او مرکزي آسیا ۱۴ هېوادونه یو له بل سره وصل او د ترکیې له طریقه به اروپا ته لار پرانیزي. اسلامي امارت په دې برخه کې هم ګامونه پورته کړي دي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ایران ته د خپل رسمي سفر په ترځ کې د ۱۴۰۲ لمریز کال د عقرب میاشتې په ۱۸مه نېټه له چابهار بندر څخه لیدنه وکړه. محترم ملا صاحب د دغه لیدنې پر مهال د چابهار بندر له مسوولینو سره وکتل او د دغه بندر له لارې یې د افغانستان د صادراتو او وارداتو پر زیاتوالي ټینګار وکړ. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له ایراني لوري وغوښتل چې چابهار بندر ته د افغانستان لاسرسی اسانه کړي، څو له دې لارې وکولای شي خپل صادرات د نړۍ بازارونو ته ورسوي. ایراني لوري په چابهار بندر کې د افغانستان لپاره د لازمو اسانتیاوو رامنځته کولو او همدارنګه د دغه بندر له لارې د افغانستان د سوداګرۍ د زیاتېدو په اړه محترم ملا صاحب ته ډاډ ورکړ او زیاته یې کړه، چې په دې اړه به د دواړو هېوادونو تخنیکي ټیمونه په ګډه کار وکړي.





# هوايي دهلېزونه

## ۱ کابل- شانګهای هوايي دهلېز

اوسمهال د هېواد د صادراتو او سوداګرۍ د پراختيا له پاره هوايي دهلېزونه ډېر مهم دي او د هوايي دهلېزونو په جوړېدو سره به د افغانستان اقتصاد د يو شمېر هېوادونو له برمتې وژغورل شي. د هوايي دهلېزونو په جوړېدو سره به صادراتي توکي پروخت انتقال او ددې ترڅنګ به د ځينو محصولاتو لکه تازه ميوې او نورو طبي بوټو له منځه تلو مخه هم ونيول شي. بله دا چې تر دې مهاله د افغانستان ځمکنۍ لارې هم په بشپړ ډول لا نه دي رغول شوې، نو له دې امله د صادراتي توکو په لېږد کې هوايي دهلېزونه مهم رول لوبولی شي. اسلامي امارت همدې ټکي ته په پاملرنې سره هڅه کړې ده چې هوايي دهلېزونه رامنځته کړي. په دې هوايي دهلېزونو کې يو هم د کابل- شانګهايي هوايي دهلېز دی. افغانستان او چين له اوږدې مودې راهيسې اړيکې لري. واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره دا اړيکې لا پراخې شوې دي. د چين ولسي جمهوريت دا مهال د افغانستان په ځينو کانونو کې پانګونه کړې او د آمو تېلو حوزې د استخراج تړون يې هم ترلاسه کړی دی. ددې ترڅنګ د چين او افغانستان ترمنځ سوداګريزې اړيکې هم پياوړې شوې دي. ددې اړيکو د پاللو له پاره اسلامي امارت او چين په ګډه د کابل شانګهای هوايي دهليز پرانيست. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په ۱۴۰۲ لمريز کال کې د کابل – شانګهای هوايي دهلېز پرانيست. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په همدې تړاو جوړو شوو مراسمو ته وويل، دا چې د افغانستان اقتصادي وضعيت د پرمختګ په لور روان دی، دا د سوداګرو او صنعت‌کارانو د هڅو پايله ده او دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان اقتصادي وضعيت پر غوړېدو نړۍ هم اعتراف کوي. له دې لارې د افغانستان کرنيز او نور محصولات چين هېواد ته لېږدول کېږي.



# رېل پټلۍ

افغانستان د نړۍ یو له هغو هېوادونو څخه دی چې سمندر ته لار نه لري. په نړۍ پــه ځانګړي ډول اسـیا کې هغه هېوادونه چې په وچه کې پراته دي، تر ټولو غوره، خوندي او ارزانه ترانسپورټ د رېل ګاډي ترانسپورټ دی. بله دا چې د چټکې سـوداګرۍ د ودې لپاره کولای شـو د رېل پټلۍ له لارې د سـیمې او نړۍ ګڼو سوداګریزو مارکېټونو ته ځان ورسوو او پرته له دې موږ نه شو کولای د سـیمه ییز اتصال تر عنـوان لاندې د سـیمې او نړۍ له سـترو اقتصادي او سـوداګریزو بازارونو سره وصل شو؛ نو همدې اصـل ته په کتو د افغانسـتان اسلامي امارت د نورو سکټورونو ترڅنګ د رېل پټلۍ برخې ته پوره پام اړولی دی او پــه دې برخه کې یــې ځینې پروژې پلــې او د ځینو له پاره یې پلانونه چمتو کړي دي. کله چې د رېل پټلۍ له لارې افغانستان د سـیمې او بیا له نړۍ سره ونښـلول شي، نو بیا دا ډاډ شته چې د افغانستان سوداګري به پراختیا وکړي او ترڅنګ به یې اقتصـادي وده رامنځته شي. په دې برخه کې لومړی د خواف- هرات رېل پټلۍ ته اشاره کوو.

## ۱ خـواف- هـرات رېل پټلۍ

د خواف – هرات د اورګاډي پټلۍ پروژه د پنځـو هېوادونو د رېـل پټلۍ دهلېز برخــه ده. دغه رېل پټلۍ بــه د ایران، افغانستان، تاجکسـتان، قرغزستان او چین څخه تیرېـږي. ټول اوږدوالی یې دوه زره کیلومـتره دی. دا رېل پټلۍ له هرات څخه په تېرېـدو د افغان-تاجک پولې ته رسـېږي او له تاجکستان څخه تر تېرېدو وروسته قرغزستان ته او هلته بـه د چین-قرغزستان-ازبیکسـتان (CKU) رېل پټلۍ سره ونښلي. د خواف- هرات رېل پټلۍ ټـول اوږدوالی ۲۲۵ کیلومـتره دی چې لــه دې جملې یې ۱۴۰ کیلومتره په افغانستان او پاتې ۸۵ کیلومتره یې په ایران کې غځېدلې ده.



## ۲ د سرحد آباد – تورغنډۍ رېل پټلۍ

دا د اورګاډي لومړۍ پټلۍ ده چې د پخواني شوروي لخوا جوړه شوې وه. د اورګاډي دغه رېل پټلۍ د لس کيلومتره په اوږدوالي د ترکمنستان سرحد آباد ښار د افغانستان له تورغونډۍ سره نښلوي. دا کرښه په ۲۰۰۷م کال کې بيارغول شوې او اوس هم کارول کېږي. اوس مهال، د دې پټلۍ له لارې د سوداګريزو مالونو لويه اندازه لېږدول کېږي.

## ۳ د ترمز – مزارشريف د اورګاډي پټلۍ

د ترمز – حيرتان رېل پټلۍ هم په ۱۹۸۰يمه لسيزه کې د پخواني شوروي له خوا جوړه شوې وه. دا کرښه د ازبيکستان ترمز ښار، د دوستۍ پله له لارې د افغانستان له بندري ښار حيرتان بندر سره نښلوي. د دغې اورګاډي د پټلۍ د پراختيا کار چې له حيرتان بندر څخه تر مزارشريف ښار پورې و، په ۲۰۱۰م کال کې بشپړ شو. دغه شبکه چې اصلي کرښه يې ۷۵ کيلومتره او فرعي کرښه يې ۳۱ کيلومتره ده، ۵ عملياتي او ترانزيټي سټېشنونه (حيرتان، جيرتان، تازه اميد، نايب اباد او مزارشريف) لري.

## ٤ افغان- ټرانس رېل پټلۍ

د افغان- ټرانس رېل پټلۍ ۷۶۰ کيلومتره اوږدوالی لري، ۳۳ د اورګاډي پلونه او ۳ سټېشنونه به ولري او د يادې پروژې د جوړولو اټکل شوې بوديجه ٤،۸ ميلیارده ډالره ښودل شوې ده. د افغان- ټرانس رېل پټلۍ پروژه د لومړي ځل لپاره د ۲۰۱۸م کال په ډسمبر کې د ازبيکستان لخوا وړانديز شوې وه، موخه يې دا وه چې د افغانستان د اورګاډي شبکه له مزارشريف څخه کابل او بيا ننګرهار ولايت ته وغځوي، چې دا پټلۍ به له تورخم تېرېږي او د پېښور له لارې به پاکستان ته داخلېږي او تر نوتو وروسته به د پاکستان تجارتي توکي د رېل سيستم سره د نښلولو په موخه خالي کېږي او په پای کې به د کراچۍ، ګوادر او قاسم بندرونو ته لېږدول کيږي. د افغان- ټرانس د اوسپنې پټلۍ چې په اوسط ډول به په کال کې ۱۵ مېليونه ټنه سوداګريز توکي وليږدوي، په جوړېدو سره به يې له يوه لوري مرکزي اسيا او سويلي اسيا سره ونښلول شي او له بل لوري به افغانستان خپل سوداګريز او صادراتي توکي منځنۍ اسيا او جنوبي اسيا هېوادونو ته په ټيټه بيه انتقال کړي او همدارنګه به له دغو هېوادونو څخه د اړتيا وړ توکي په کمه بيه وارد کړي چې دا خپله د آسيا د اتصال پر نقطې د هېواد د بدلېدو، د عوايدو د زياتوالي، سوداګرۍ د پراختيا، اقتصادي ودې او د هېواد د پرمختګ او ترقۍ لامل ګرځي. خو د ۱٤۰۲ لمريز کال د چنګاښ په مياشت کې د اسلامي امارت د رېل پټلۍ اداري مشر ددې پروژې د مسير د بدلولو هوکړه ليک لاسليک کړ. مخکې دا رېل پټلۍ د ازبيکستان له ترمز څخه مزارشريف، کابل، ننګرهار او د تورخم بندر له لارې پيښور ته غځول کېده، خو د نوي مسير په ټاکلو سره به اوس دغه ريل پټلۍ د



ازبیکستان له ترمزه د افغانستان مزار شریف، لوګر او له هغه ځایه پکتیا کې د خرلاخې له لارې پر ډیورنډ کرښه کورمې ته واوړي او بیا به د پاکستان د اورګاډو شبکې سره وصل شي. د یادې رېل پټلۍ په مسیر کې د بدلون راوستلو موخه دا ده چې د پخواني مسیر په پرتله دا نوی مسیر لنډ او اقتصادي دی. اسلامي امارت د اقتصادي ودې او پراختیا په برخه کې او همدارنګه له سیمې سره د نښلولو لپاره خپلې هڅې ګړندۍ کړې دي او د افغان-ټرانس رېل پټلۍ پروژه یوه له دغو پروژو څخه ده. دغه راز د رېل پټلۍ د پراختیا له پاره ځینې طرحې هم چمتو شوې دي چې له هغو څخه یوه طرحه د مزارشریف- هرات- کندهار سپین بولدک رېل پټلۍ ده. که دا پروژه بشپړه شي نو له شک پرته به افغانستان د اسیا لویې وچې د وصل په نقطه بدل شي. د افغانستان اسلامي امارت د نورو سکټورونو ترڅنګ د رېل پټلۍ برخې ته پوره پام اړولی دی او په دې برخه کې یې ځینې پروژې پلې او د ځینو له پاره یې پلانونه چمتو کړي دي. اوسمهال افغانستان د ایران ترڅنګ د منځنۍ اسیا هېوادونو سره د رېل پټلۍ له لارې نښلول شوی دی چې دا د افغانستان له پاره غوره بدیلې لارې دي او په پراختیا سره به یې د هېواد سوداګري نړیواله شي.

# بدیلې سوداګریزې لارې او پر اقتصاد یې اغېزې

د ورېښمو لار، لاجوردو لار، واخان دهلېز، هوایي دهلېزونه او رېل پټلۍ هغه څه دي چې کولای شي افغانستان له اسیا، اروپا او افریقا سره ونښلوي او د دغو لویو وچو د هېوادونو اقتصاد به وغوړوي او ګټې به یې شریکې کړي. په وچه کې ایسار افغانستان د آسیا او اروپا په څمکني مرکز کې پروت دی. بدیلې لارې به د افغانستان له پاره له ځان سره زیاتې اقتصادي ګټې ولري او افغانستان به د خپل جغرافیایي موقعیت په درلودلو سره د سیمې پر څلور لارې بدل شي. د بدیلو لارو په موندلو او رغولو سره به د افغانستان حکومت وکولای شي چې نوي اقتصادي فرصتونه رامنځته او ورسره به نړیوال پانګوال وهڅوي، ترڅو په بېلا بېلو برخو په ځانګړې ډول د کانونو په برخه کې پانګونه وکړي. له دې سره به افغانستان د اقتصاد یوه نوي پړاو ته ورننوځي. بله دا چې افغانستان یو کرنیز هېواد دی او زیاتره خلک یې پر کرنه بوخت دي، ددې لارو په جوړېدو به د افغانستان د کرنیزو محصولاتو مارکېټ له نړیوالو مارکېټونو سره ونښلول شي. دا بیا دوې ګټې لري له یوه لوري به سوداګري پراختیا ومومي او له بل لوري به د افغان بزګرانو اقتصادي حالت ښه شي. د حکومت له پاره به ددې زمینه برابره شي چې د مالیاتو په اخیستلو سره د افغانستان د حکومت د عوایدو کچه لوړه کړي. موږ غواړو دلته د بېلګې په ډول د واخان دهلېز یاد کړو. چین هر کال له نړۍ سره د ټریلیونونو ډالر



سوداګري کوي. که چېرې چین له اروپا او افریقا سره د واخان دهلېز له لارې سوداګري وکړي، نو یوازې د مالیې له درکه افغانستان هم سلګونه میلیون ډالر ترلاسه کوي. نو که ټولې ځمکنۍ لویې لارې، هوایي دهلېزونه او رېل پټلۍ جوړ شي، نو زموږ عواید به څو چنده او سوداګري به مو پوره وده او پرمختګ وکړي. دغه راز به له دې لارو څخه د افغانستان لاسي صنایع نړیوالو بازارونو ته لار پیدا کړي چې له مخې به یې لاسي صنایع وده وکړي او په راتلونکي کې به دا د عواید یوه بله ستره سرچینه وګرځي. دا ټول هغه څه دي چې کولای شي، هېواد د پرمختګ لوړو پوړیو ته ورسوي او هم له اقتصادي پلوه افغانستان پر ځان بسیا او د یوه خپلواک اقتصاد څښتن شي.



## پایله

افغانستان د خپل ځانګړي جغرافیایي موقعیت له مخې د سیمې د درېیو اقتصادي، کلتوري او جیوپولټیکو حوزو په منځ کې پروت دی. په سویل او ختیځ کې سویلي اسیا، په شمال کې مرکزي اسیا او لویدیځ کې یې ایران دی. له همدې امله افغانستان دا درې واړه حوزې یو له بل سره تړلې دي. له دې سیمو یا حوزو څخه مرکزي اسیا او سویلي اسیا کولای شي د یو بل له پاره ګڼ فرصتونه رامنځته کړي. خو د ډاډمنو ترانسپورتي او مواصلاتي لارو د نشتوالي له امله لا هم پر دې نه دي توانیدلي چې له یو بل سره په بشپړ ډول سوداګریزې اړیکې رامنځته کړي. نو که اسلامي امارت غواړي چې هېواد د اسیا لویې وچې په څلور لارې بدل، ځان د اروپا او افریقا له لویو وچو سره ونښلوي او له دې پلوه د خپل اقتصاد د پیاوړتیا له پاره ګټه پورته کړي، نو پورته یادې بدیلې لارې باید ورغوي. دا مواصلاتي لارې زیاتو امکاناتو او بودیجې ته اړتیا لري، خو اسلامي امارت سره له دې هم د خپلو امکاناتو په چوکاټ کې په دې برخه کې ګامونه پورته کړي دي چې موږ یې په لیکنه کې یادونه وکړه. که چېرې دا لارې په بشپړ ډول ورغول شي، نو بیا په دې کې شک نه پاتې کېږي چې افغانستان به د اقتصاد له پلوه پر ځان متکي او هم به په نړیوال ستېج د نورو پرمختللو هېوادونو په څېر خپل موقف ژوندی کړي.

## سپارښتنې

اسلامي امارت باید د لویو سوداګریزو ترانزیتي لارو جوړولو او رغولو لپاره بودیجه ځانګړې کړي.

اسلامي امارت باید د بدیلو لارو، هوایي دهلېزونو او رېل پټلۍ د غځولو په برخه کې د ګاونډیو هېوادونو د هڅولو لپاره ځانګړې ډیپلوماسي ولري.

اسلامي امارت ددې له پاره چې پر یوه یا دوو هېوادونو له متکي کېدو وژغورل شي او سوداګري یې نړیواله بڼه خپله کړي، په کار ده چې بدیلې لارې پیدا او پانګونه پرې وکړي.

اسلامي امارت باید ددې لارو د جوړولو په برخه کې د پانګوالو د هڅونې لپاره لازمې اسانتیاوې برابرې او د هغوی ټولې ستونزې پر وخت هوارې کړي.

## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال

# الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

## پيغامونه



يو ملت په اقتصادي لحاظ هغه مهال پر پښو درېږي او د خودکفايي پر لور گامونه اخلي کله چې سالمه زېربنا ولري. زموږ د هېواد زېربنا د تېرو څلوېښت کلنو جگړو له امله سخته صدمه ليدلې ده. د اقتصاد د اساساتو رغولو اهميت اسلامي امارت درک کړی دی، ځکه يې د اقتصادي پاليسۍ مهمه برخه گرځېدلې ده.




د سالنگ لارې اهميت په دې کې دی چې د هېواد د شمال او جنوب د نښلولو ترڅنگ د جنوبي او منځنۍ اسيا هېوادونو لپاره د ترانزيټ په برخه کې هم مهم رول لوبوي. د دې لارې په واسطه به د گاونډيو هېوادونو د سوداگريزو توکو په لېږد رالېږد کې ډېرې اسانتياوې رامنځته او د راکړې ورکړې حجم به زيات شي.



اسلامي امارت په پام کې لري چې د امکاناتو برابرېدو په صورت کې د سالنگ دوهم تونل هم وباسي او له حيرتان څخه تورخم ته د اوسپنې پټلۍ وغځوي، چې په دې سره به د ترانزيټ کچه زياته او هېوادوالو ته به بې شمېره اسانتياوې رامنځته شي.



اسلامي امارت په پوره اخلاص او صداقت سره د هېواد د آبادۍ لپاره هڅې کوي او ټولې کړې ژمنې به په عمل کې ثابتې کړي.




اسلامي امارت د نورو له احتياج څخه د خلاصون او د صنعتي او اقتصادي افغانستان د ودانولو لپاره کلک عزم کړی دی او له دې پاکې خاورې او شريف ولس سره ژمنه کوي، چې د پر ځان بسيا افغانستان لپاره به هر ډول هلې ځلې ترسره او له ټولو شته امکاناتو به کار واخلي.



دا چې برېښنا زموږ د هېواد يوه لويه اړتيا ده، نو له همدې وجې اسلامي امارت د ډېرو بنسټيزو کارونو په پرتله دې برخې ته لومړيتوب ورکړی او له پانگوالو يې غوښتنه کړې، چې په دغه سکټور کې پانگونه وکړي.

# پیام های

# الحاج ملا عبدالغنی برادر اخند

## معاون اقتصادی ریاست الوزراء



امارت اسلامی جهت رسیدن به خودکفایی، تولید برق را در داخل کشور اولویت داده تا صلاحیت آن را به دست داشته باشد و نیز به قیمت های به مردم عرضه دارد که متناسب به توان آنها باشد.



امارت اســـلامی به منظور ازدیاد سطح تجارت و ترانزیت پروژه اعمار سرک دوم کابل- جلال آبـــاد را نیز در اولویت های کاری خویش قـــرارداده که در آینده نزدیک کار عملی آن آغاز می شود.



تا دهه های اخیر قرن گذشته قمری، شرکت های دولتی الی ٦٠ فیصد بودجه ملی را تأمین می نمودند و کیفیت خدمات آن نیز نسبت به سکتور خصوصی بلند بود، تااندازه ای که خدماتی را که سکتور خصوصی از انجامش عاجز می ماند، شرکت ها و تصدی های دولتی آنرا به شکل مسلکی و با قوت انجام می دادند.



خوشـــبختانه با رویکار آمدن امارت اســـلامی به اثر سعی و تلاش وزارت مالیه بســـیاری از شرکت های دولتی دوباره فعال گردیـــده و در عواید آنها افزایش چشمگیری به عمل آمده است.



به اساس فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله تمامی شرکت های امارتی تحت چتر اداره واحد خواهد آمد و امور آن به شکل مثبت و خوب پیش خواهد رفت.



برای پیشرفت کشور امنیت شرط مهم است، که اکنون امنیت سرتاسری در افغانستان تأمین گردیده و در بخش های گونا گون فرصت ها برای سرمایه گذاری فراهم گردیده است.



It is incumbent upon all Afghans, particularly national entrepreneurs and investors, to engage actively in the reconstruction efforts of the country, leveraging their capabilities and capitalizing on investment opportunities in priority sectors for the Afghan people.



Over the past four decades, the nation's infrastructure has endured considerable damage due to wars, disasters, and other adversities, consequently impacting the overall economy. Since its re-establishment, the Islamic Emirate has demonstrated a keen focus on rebuilding the infrastructure, among other sectors. Notable examples include the constructive endeavors of various government institutions in diverse fields.



Government corporations are established to foster healthy competition with the private sector, curb hoarding tendencies, deliver high-quality services, and contribute to the government budget. Regrettably, Afghanistan's government-run entities have fallen short of achieving these objectives, primarily due to the mismanagement and corrupt practices of those in executive and leadership positions.

Deputy PM for Economic Affairs,

## Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund's

# MESSAGES

Private companies adhere to meticulously crafted commercial, financial, procurement, and operational plans, formulated by executive committees and ratified by proficient boards of directors.





Government corporations distinguish themselves from other entities through their organized and professional structure. Clear competencies, streamlined work processes, and the avoidance of task overlaps characterize their operations.

The pivotal role of industry in propelling a country's economic growth cannot be overstated. Nations that have emerged from conflicts and witnessed rapid economic development attribute their success largely to industrial advancements.



revenue through effective tax collection. The convergence of these alternative trade routes not only positions Afghanistan as a key player in regional and international trade but also sets the stage for a more prosperous economic future.

## Conclusion

If the Islamic Emirate wants the country to turn into the crossroad of Aisa Continent, connect itself with the continents of Europe and Africa and use this to strengthen its economy, then it should develop the above-mentioned alternative trade routes. These communication routes require more resources and funds, but the Islamic Emirate has taken steps in this field within the framework of its resources. If these roads are completely restored, then there is no doubt that Afghanistan will be economically self-reliant and will revive its position on the international stage like other developed countries.





### 3. Termez-Mazar-e-Sharif Railway

Constructed by the former Soviet Union in the 1980s, the Termez-Hiraitan railway connects Uzbekistan's city of Termez to the port city of Hairatan in Afghanistan via the Dosti bridge. The development work for the extension from Hairatan to Mazar-e-Sharif city concluded in 2010.



### 4. Afghan-Trans Railway

Spanning 760 kilometers with 33 railway bridges and 3 stations, the Afghan-Trans Railway has an estimated budget of 4.8 billion dollars. Proposed by Uzbekistan in December 2018, this project aims to extend Afghanistan's railway network from Mazar-e-Sharif to Kabul, ultimately reaching Pakistan.



## Exploring Alternative Trade Routes and Their Economic Impact


The Silk Road, Lapis Lazuli Trade Route, Wakhan Corridor, Air Corridors, and Railways represent vital connections linking Afghanistan with Asia, Europe, and Africa, fostering economic growth across these continents and facilitating mutual benefits. Situated at the crossroads of Asia and Europe, Afghanistan stands to gain significant economic advantages from these alternative routes, transforming it into a pivotal hub at the intersection of four regions.

By identifying and revitalizing these alternative routes, the Afghan government has the potential to unlock new economic opportunities, attracting international investors, particularly in the lucrative mining sector. This strategic move will propel Afghanistan into a new era of economic development.

Moreover, as a predominantly agricultural nation, Afghanistan's agrarian populace stands to benefit substantially from the construction of these routes. The establishment of these transportation networks will seamlessly connect Afghanistan's agricultural markets with international counterparts, resulting in a dual advantage. On one hand, it will stimulate business growth, and on the other hand, it will enhance the economic conditions of Afghan farmers. Additionally, this infrastructure development offers the government an avenue to bolster

### c. Railways

In tandem with various other sectors, the Islamic Emirate of Afghanistan has devoted significant focus to the railway sector, implementing several projects and outlining plans for others. The strategic vision involves linking Afghanistan to the broader region and subsequently the world via railways, a development that undoubtedly promises to stimulate trade and foster concurrent economic growth in Afghanistan.



#### 1. Khaf-Herat Railway

The Khaf-Herat railway project is a crucial component of the five-nation railway corridor traversing Iran, Afghanistan, Tajikistan, Kyrgyzstan, and China. Covering a total length of 225 kilometers, with 140 kilometers in Afghanistan and the remaining 85 kilometers in Iran, this railway is integral to enhancing regional connectivity.

#### 2. Sarhadabad-Torghondi Railway

The Sarhadabad-Torghondi Railway, the inaugural rail system constructed by the former Soviet Union, spans 10 kilometers, linking the Turkmen city of Shardabad to Torghondi in Afghanistan. Revitalized in 2007, this railway continues to be operational.

## 4. Chabahar Port



To mitigate Afghanistan's isolation, it is imperative to establish connections with regional organizations and economies, secure access to international waters, rectify trade imbalances, and navigate political pressures. One avenue for achieving these goals is through exploring opportunities for trade and economic transactions, with Chabahar Port emerging as a promising prospect. Situated in the Sistan and Baluchistan province of Iran, this port facilitates connectivity with India via the Arabian Sea.

## b. Air Corridors

### 1. Kabul-Shanghai Air Corridor

In the contemporary context, the establishment of air corridors plays a pivotal role in fostering the development of a country's exports and trade. Constructing these air corridors not only safeguards Afghanistan's economy from undue interference but also ensures timely transportation of export goods. Additionally, it prevents the spoilage of perishable products like fresh fruits and medicinal plants. Recognizing the significance of air corridors, the Islamic Emirate has actively worked towards their creation, exemplified by the establishment of the Kabul-Shanghai air corridor.



## Alternative Trade Routes:

### a. Land Routes:

The first among these routes is the historic Silk Road.

#### 1. The Silk Road


The Silk Road, established around 114 BCE, served as a reliable trade route connecting East, West, and South Asia, as well as North Africa with Eastern Europe. In 2013, Xi Jinping assumed the presidency of China during a period of robust economic growth. To further elevate China's economic standing, Jinping initiated extensive economic projects, with the reconstruction of the Silk Road being a prominent endeavor. This revitalized Silk Road consists of both maritime and overland routes, aiming to connect Central Asian nations with South Asia and link Eastern and Western Asia with Europe, traversing through Afghanistan.

Beyond its economic advantages, this project fosters cultural and social ties. Afghanistan, historically integral to the ancient Silk Road, formally joined the initiative by signing the "One Belt One Road" agreement with China in 2016. This agreement positions Afghanistan as a key participant in a network of historical and vital trade routes. Through its involvement in the One Belt One Road project, Afghanistan stands to not only access Asian markets but also reach Europe, enabling the cost-effective distribution of its products across these regions.

#### 2. Lapis Lazuli Trade Route

challenging route via the port of Karachi in Pakistan. The Lapis Lazuli Trade Route, however, serves as an alternative, linking Afghanistan directly with Europe, the Middle East, Africa, the Balkans, and Turkey, bypassing the need for the Karachi port. This route not only provides Afghanistan with a more direct connection to these regions but also facilitates access to maritime routes, offering opportunities for expanded business ventures and heightened economic growth.






#### 3. Wakhan Corridor


The Wakhan Corridor, a narrow valley in Afghanistan, stretches into China's Xinjiang region, serving as a natural divide between Tajikistan's Gorno-Badakhshan region and Pakistan-controlled Kashmir's Gilgit-Baltistan region. Extending approximately 350 km in length, with a width ranging from 13 to 65 km, the Wakhan Corridor originated from the 19th-century geopolitical rivalry between the British and the Russians, established as a buffer zone between their empires. This corridor holds particular significance for regional trade and connectivity. Recognizing its strategic importance, the Islamic Emirate has initiated efforts to develop and expand business activities within this crucial corridor.

# Evaluating
# the Economic Significance of
## Alternate Trade Routes

**By Fazl Wali Shirani**

### Introduction

The advancement of a nation necessitates robust transit infrastructure, encompassing highways, roads, railways, air corridors, and airports. Constructing these essential transit and communication networks is imperative for national development. Achieving such infrastructure demands not only stability within the country but also increased investments, expertise, proficient management, and effective governmental planning. When executed meticulously, these endeavors can substantially contribute to the overall economic growth of a nation.



| | |
|---|---|
| **Publisher:** | Deputy PM for Economic Affairs Office |
| **Editorial Board:** | Maulvi Sayed Ali Saeed, Maulvi Zabehullah Nasir, Maulvi Abdullah Azzam, Amanullah Hanifi, and Fazal Wali Shirani |
| **Chief Editor:** | Maulvi Khaliq Dad Taqi |
| **Deputy Chief Editor:** | Ahmad Shah Rashed |
| **Graphic Designer:** | Ataurahman Saeid |
| **Photojournalist:** | Sayed Ashrat Rahmati |
| **Printing Press:** | Baheer Printing Press |


Marmarin Palace, Malik Asghar Square, Kabul

Phone: 0202107500

Email: media@dpmea.gov.af

Website: dpmea.gov.af

**Please provide proper attribution when using content from this magazine.**